د افغانستان اسلامي دولت
د ښوونې او روزنې وزارت
د افغانستان تعليمي مرکز
د سواد آموزۍ مديريت

جهادي سواد

دريم توک

د ف م م آسمائي ليکنه

۱۳۶۹ هـ.ش

د افغانستان اسلامي دولت
د ښوونې او روزنې وزارت
د افغانستان تعليمي مرکز
د سواد آموزۍ مديريت

جهادي سواد

دریم ټوک

د ف م م آسمائي لیکنه

۱۳۶۹ هـ.ش

د افغانستان اسلامي دولت
د ښوونې او روزنې وزارت
د افغانستان د تعليمي مرکز
د پلان او ارتباط مديريت

بسم الله الرحمن الرحيم

PROPERTY OF ACKU 19143

فهرست مطالب

شماره	عنوان	صفحه
۱ ـ	لومړی لوست	۱
۲ ـ	دوهم لوست	۹
۳ ـ	دریم لوست: دسوادزده کړه .	۱۸
۴ ـ	څلورم لوست: سخی او بخیل .	۲۹
۵ ـ	پنځم لوست: داسلام لاره د نیکمرغی لاره ده .	۳۸
۶ ـ	شپږم لوست: د اسلام دین دهمدردی او مرستی دین دی .	۴۸

شماره	عنوان	صفحه
۷ ــ	اووم لوست: د جهاد فضیلت او مرتبه	۵۸
۸ ــ	ریښتینی جهاد	۶۲
۹ ــ	اتم لوست: په جهاد کې لازمی لارښوونی .	۷۱
۱۰ ــ	نهم لوست: اسیر	۸۱
۱۱ ــ	لسم لوست: اتحاد	۹۳
۱۲ ــ	یوولسم لوست: اسلامی حکومت	۱۰۳
۱۳ ــ	د ذمی حقوق	۱۰۷
۱۴ ــ	د مستأمن حقوق	۱۰۹
۱۵ ــ	دوولسم لوست: اسلامی حجاب	۱۱۸
۱۶ ــ	دیارلسم لوست: خیانت	۱۳۱

صفحه	عنوان	شماره
۱۴۰	خوارلسم لوست: دمؤمن قتل	۱۷ -
۱۵۰	پنځه لسم لوست: اسلام مسلمانانو ته نبه اخلاق زده کوی .	۱۸ -
۱۶۰	شپاړسم لوست: نظافت دایمان یوه برخه دی .	۱۹ -
۱۷۴	اووه لسم لوست: هیواد بیا جوړونی ته ضرورت لری .	۲۰ -
۱۸۵	اتلسم لوست: دیوی جملی لوستل	۲۱ -
۱۹۴	نولسم لوست: کلام یا جمله	۲۲ -

شماره	عنوان	صفحه
۲۳ -	شلم لوست : زمونږ د هیواد اقلیم .	۲۰۴
۲۴ -	یوویشتم لوست : کرنیز اصلاح شوی تخم	۲۱۴
۲۵ -	دوه ویشتم لوست : پریمانه حاصل سم کښت او کار	۲۲۴
۲۶ -	درویشتم لوست : ښه او گټوره مالداری	۲۳۶
۲۷ -	څلورویشتم لوست : ځنګلداری	۲۴۶

صفحه	عنوان	شماره
	پنځم ویشتم لوست: دانسان	۲۸ -
۲۵۷	بدن دغوخواړوته اړتیالری.	
	شپږ ویشتم لوست: په خپل سر	۲۹ -
۲۶۷	باید دوا ونه خوړل شی.	
	اووه ویشتم لوست:	۳۰ -
۲۷۹	مایکروسکوپ یاذره بین	

لومړی لوست

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ



لوی خدایه ج!

تا ستایو چې د ټولو

عالمونو پروردګار او مهربانه

ښبونکی یې او د ټولو خلکو او

ټولو عالمونو کار پای ستا د قدرت

په لاس کې دی.

الهي ج، !

یوازې تا ستایو او یوازې ستا نه مرسته غواړو .

ته مونږ سمې لارې ته هدایت کړه ، د هغو لارې چې تا

ورته انعام ورکړی ، نه د هغو لارې چې تا پرې غضب کړی

او نه گمراهان .   آمین

نوې کلمې :

کلمې :	هدایت	انعام	غضب
معناوې :	لارښوونه	بخشش	قهر

د دغو جملو د تشو ځایونو لپاره ئی

لویه خدایه (ج)! تا ....

ښې د ټولو عالمونو .... یې ،

مهربانه .... یې .

یوازې تا ستایو او یوازې له تا نه ....

مونږ سمې لارې ته .... کړه

له دغو کلمو څخه وټاکئ

پروردګار
مرسته غواړو
ستایو
هدایت
بښونکی

د معناوو د پېژندلو تمرین

په دغو نیمګړو جملو سره

مثال: په دفاع نه ارزي   کمونستي باطله عقیده

هدایت کړه .	موږ سمې لارې ته
ستا د قدرت په لاس کې دي	د ټولو خلکو د کار پای
عالمونو پروردګاري	تأستا یوې د ټولو

دلته بشپړه جمله جوړه کړی
کمونستي باطله عقیده په دفاع نه ارزي

د سم بیانولو د پوهیدنی

تمرین

د درس د مقصد له مخې د هر سوال لپاره یو ځواب وټاکئ.

سوالونه	ځوابونه
۱- انسان باید د کوم ذات ستاینه وکړي؟	۱- د خدای (ج) / د پیسو / د قدرت
۲- د ټولو خلکو د کارپای د چا په لاس دی؟	۲- د سرمایې / د زورمندانو / د پروردګار (ج)
۳- چاته باید امید وتړو؟	۳- ځواکمنو ته / خدای (ج) ته / پیسو ته
۴- سمه لاره کومه ده؟	۴- د خدای (ج) لاره / د کمونستي لاره / د دنیائي قدرت لاره

د درس
د مقصد د پوهېدنې
تمرین

د (۱) چوکاټ د کلمو مترادف (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کی ولیکی

۲

له دی ځایه وټاکی
رب العالمین
عفوکوونکی ، مهربان
عبادت کوونکی
لارښوونه

۱

د دغو کلمو مترادف
د ټولو عالمونو پروردگار
بښونکی
ستایونکی
هدایت

۳

او هغه په دی ځای کی ولیکی

د کلمو او معناوو د پیژندنی تمرین

(۱) چوکاټ د کلمو ضد له (۲) چوکاټ څخه وټاکئ او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکئ

۲	۱
له دې ځایه وټاکئ	د دغو کلمو ضد
کمونستي لاره	اسلامي لاره
بې رحمه کمونست	مهربانه او بارحمه مسلمان
نالایق ، ناپوه	لایق
سمه لاره	د گمراهۍ لاره

۳

او هغه په دې ځای کې ولیکئ

د کلمو او معنا وو د پېژندنې تمرین

در (۱) چوکاټ د جملو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کی ولیکی

۱

د دغو جملو مترادف
خدایه (ج)! تا ستایو
تا ستایو او تا ته امید ترو
یوازې له تا نه مرسته غواړو
ته موږ سمې لارې ته هدایت کړه

۲

له دې ځایه وټاکی
خدایه (ج)! ستا ثنا او صفت وایو .
تا ستایو او غیر له تا بل چا ته امید نه ترو
غیر له تا نه له بل چا نه مرسته نه غواړو
ته موږ ته سمې لارې لارښوونه وکړه

۳

او هغه په دې ځای کی ولیکی

د کلمو

او معناوو پېژندنی

تمرین

دوهم لوست



لويه خدايه (ج) !

تاستايو چې مونږ ته

دې قوت او ايمان راکړ

چې شيطاني بې رحمو لشکرو

يعنې يرغلګرو روسانو او

د هغوی بې دينه طرفدارانو ته

موږ په خپل هيواد کې ماتې ورکړه او د باطل په ضد په حق جهاد

کې بريالي او سرلوړي شو

لويه خدايه (ج) ! مونږ ته د ير قوت راوبښه چې سرکښه

نفس ته هم ماتې ورکړو چې دا جهاد اکبر دی او مونږ ته توفیق

راکړه چې بیسوادی او جهل ، فقر ، ناروغی او ناتوانی هم

له خپل هیواد نه لرې کړو .

الهٰي ! ته په دغه لوی جهاد کې زمونږ سره مرسته

وکړه او مونږ بریالی او سرلوړی کړه

زمونږ زړونه له خپلې مینې ډک کړه چې د ځان ستاینې له

ناروغی نه وژغورل شو تر څو هغه شی چې ځان ته یې نه غواړو د بل

مسلمان ورور لپاره یې هم و نه غواړو .

نوی کلمې

کلمې :	یرغلګر	جهاداکبر	باطل	توفیق
معناوې :	تیری کوونکی	لوی جهاد	خراب له منځه تلونکی	توان ، قوت

دد غو جملو د تشو ځايونو لپاره ئي

تاسته يو چې .... دی قوت راکړ

چې بې رحمو شيطاني .... ته مو

په .... کې ماتې ورکړه

او د .... کې بريالي شوو .

مونږ ته دير قوت را وبښه چې په ....

کې هم سرلوړي شو .

له دغو کلمو څخه و تاکی

لشکرو

خپل هيواد

مونږ ته

جهاد اکبر

جهاد
باطل پر ضد په حق

د معنا وو د پيژندلو

تمرين

پهٔ دغو نیمګړو جملو سره

مثال: پهٔ دفاع نهٔ ارزي کمونستی باطله عقیده

ستا یو ـــــــ خدایه (ج)! تا
روسانو او دهغوی پردینه طرفدارانو باندې.
ـــــــ لعنت دې وي پر نړیځوره
کې سرلوړي شو ـــــــ د باطل پر ضد پهٔ حق جهاد

د سم بیانولو دپو هیدنې
تمرین

دلته بشپړه جمله جوړه کړی

کمونستي باطله عقیده پهٔ دفاع نهٔ ارزي

د درس د مقصد له مخې د هر سوال لپاره یو ځواب وټاکئ

سوالونه

۱- مجاهدین په څه کې بریالي او سرلوړي شول ؟

۲- د کوم بل لښکر په وړاندې باید موږ جهاد ته دوام ورکړو ؟

۳- کومو نورو قوتونو زموږ ژوند په خطر کې اچولی دی ؟

۴- د هیواد د ژوند د ښه کېدو لپاره کومو شیانو ته توجه وکړو ؟

ځوابونه

۱- جهاد
انتخابات
آزموینه

۲- سرکښه نفس
نه پوهېږم
هیڅوک

۳- ناپوهي او ناروغي
طوفاني آب او هوا
سیل

۴- کرهنه، روغتیا او سواد
استراحت
جشنونه او محفلونه

د درس
د مقصد د پوهېدنې
تمرین

(۱) چوکاټ د کلمو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کی ولیکی

۲	۱
له دی ځایه وټاکی	د دغو کلمو مترادف
ظالم - سنگدله	بی رحمه
ناداري - بی وزلی - مفلسی	فقر
ضعیفی، بی قوتی، بیحالی	ناتوانی
بی سوادی، جاهلی	ناپوهی

۳

اوهغه په دی ځای کی ولیکی

د کلمو او معناوو پیژندنی تمرین

(۱) څوک د کلمو ضد له (۲) څوک څخه وتاکی او هغه په (۳) څوک کی ولیکی

۲	۱
له دی ځایه وتاکی	د دغو کلمو ضد
بدنیتی، حسادت، بخیلی	رواداری
غفلت، بیکارگی، تسلیمیدل	جهاد
هوا او هوس ته تسلیمیدل	جهاد اکبر
د ځان ستاینی تیاره، او د نفس بندگی	د خدای په دمینی روښنائی

او هغه په دی ځای کی ولیکی

د کلمو او معناوو د پیژندنی تمرین

د (۱) چوکاټ د جملو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کی ولیکی

۱

د دغو جملو مترادف
د مسلمان زړه د خدای (ج) له مینی ډک دی
مسلمان یوازی خدای (ج) ستائي
مسلمان خدای (ج) ته امید تړی

۲

له دی ځایه وټاکی
شیطان هوس د مسلمان په زړه کی ځای نلری
مسلمان د ثروت او قدرت بنده نه کیږی
مسلمان پر ثروت او پانګی باندی تکیه نکوی

۳

او هغه په دی ځای کی ولیکی

د مقصد بیانولو له
طریقي سره د آشنا کیدلو

تمرین

د (۱) څوکاټ د جملو ضد له (۲) څوکاټه وټاکی او هغه په (۳) څوکاټ کی ولیکی

۲

له دی ځایه وټاکی
د کمونست زړه له کینی او دښمنی ډک دی
کمونست سود او سرمایی ستاینی کوی
کمونست د هوسونو بنده وی
قناعت د یو مسلمان خصلت دی

۱

د دغو جملو ضد
د مسلمان زړه د خدای (ج) له مینی ډک دی
مسلمان یوازی خدای (ج) ستایی
مسلمان هوسونو ته نه تسلیمیږی
د دنیا حرص د مسلمان خصلت ندی

۳

او هغه په دی ځای کی ولیکی

د مقصد بیانولو
له طریقی سره د آشنا کیدلو
تمرین

دریم لوست

دسواد زده کړه

داسلام مقدس دین
دعلم زده کړه پر هر مسلمان
نارینه او مسلمانې ښځې باندې فرض
کړې دی ، دعلم زده کړه دسواد په زده کړې سره پیل کیږي
حضرت مُحَمّد صلّی الله علیه وسلّم فرمایلي دي :

«علم زده کړی که څه هم د هغې د زده کړې لپاره مجبوره
شي چې چین (یعني د دنیا د ډیرو لرو ځایونو)[1] ته سفر وکړي.»
د اسلام پیغمبر حضرت مُحَمَّد «ص» په هر کافر جنګي
اسیر د لسو نفرو مسلمانو د باسواده کولو په بدل کې آزاداوه.
د سواد زده کړه د اسلام په سپیڅلي دین کې
دومره ارزښت لري چې خدای (ج) په قرآن کریم کې
په «قلم» قسم یاد کړی دی .
د سواد زده کړه د اسلام په سپیڅلي دین کې تل ډیر
مهم او ارزښتناک وُ ، خو نن د هغه ارزښت زمونږ د مسلمانو

(۱) نوټ: په حدیث شریف کې د اسې راغلي خو له هغه نه مراد د دنیا ډیر لرې ځایونه دي .

خلکو او دګران هیواد د آبا دولو لپاره له بل هر وخت نه
ډیر دی ، پدې دلیل چې بېرحمه روسانو او د هغوی
کمونسته نوکرانو زمونږ د هیواد هرڅه وران کړي دي.
کرهڼه او طبابت له منځه تللی ، بنوونې او روزنې سخته ضربه
خوړلې ده، مالداري هم کمه او ورکه شوې ده . پیداوار لکه
پنبه ، میوه ، قالینه ، د قره قل پوستکی ، څرمن ، وړی
طبي بوټی او داسې نور ټول له منځه تللی ، تجارت بې رونقه
شوې او کارخانې له کاره پاتې شوې دی . دغه راز د مسو
او سپینو او داسې نور معدنیات ترخاورو لاندې پاتې
شوي دی .
خلک باید سواد زده کړي چې ولولی او ځان د کرهنې

مالداری ، لاسی صنایعو د اولادونو د ښې روزنې او د ټولنیز
ژوند او اسلامي اخلاقو په لاروچارو باخبره کړي او د دې باخبرۍ
په برکت سره د خپل ژوند ، خپل هیواد او خپل مسلمان
ملت د کړاو نو چاره وکړي د لیکو او لوستلو زده کړه
د خلکو د پوهې یو اُځنې لاره ده
بیخبري ، بی معلوماتي او بی علمي غفلت دی او غفلت هروخت
په تیره بیا په اوسني شرائطو کې زمونږ د هیواد او ملت لپاره یه یقین سره
مړینه او نابودي شمېرل کیږي .

نوی کلمې :

کلمې :	مجبور	چین	اربنت	علم	سپیڅلی	بی رونق
معناوې :	اړ، محتاج	په آسیا جنوب ختیځ کې یو هیواد دی	قدر او قیمت	پوهه، باخبري	پاک	بی سر او سامان، ګډوډ

د دغو جملو د تشو ځايونو لپاره ئي

دعلم زده کړه پرهر مسلمان نارينه او مسلمانې

ښځې باندې ...... دی .

دعلم زده کړه او ...... په زده کړې سرپېل کيږي

علم زده کړی کله چه هم په ...... کې وي

نن ورځ غفلت زمونږ لپاره ...... شمېرل کيږي

نا پوهې ...... منځ ته راوړی .

له دغو کلمو څخه وټاکې

سواد

ليرې ځايونو

مرينه

فرض

بد مرغي

دمعناوو د

پېژندلو

تمرين

په دغو نیمگړو جملو سره

مثال:

په دفاع نه ارزي	کمونستي باطله عقیده
څوک نه اړکوي	خدای (ج) دي هیڅ
بد مرغي راوړي	بیسوادي او ناپوهي
اعتماد ته قوت ورکوي	سواد او پوهه د سړي

دلته پشپړه جمله جوړه کړی

کمونستي باطله عقیده په دفاع نه ارزي

د سم بیانولو
د پوهیدنې
تمرین

PROPERTY OF ACKU
19143

د درس د مقصد له مخې د هر سوال لپاره يو ځواب وټاکئ

سوالونه	ځوابونه
۱- د علم زده کړه د مسلمان لپاره څه وي؟	۱- فرض / روا / ناروا
۲- پیغمبر (ص) اسیران د څو تنو مسلمانانو د باسواده کولو په بدل کې آزاد ول؟	۲- دوه کسه / لس کسه / پنځه کسه
۳- خدای (ج) په قلم څه شی یاد کړی دی؟	۳- نیکي / صفت / قسم
۴- بې خبري او ناپوهي زمونږ لپاره څه راوړي؟	۴- کراري / بدبختي / دولت

د درس
د مقصد د پوهیدنې
تمرین

(۱) چوکاټ د کلمو مترادف (۲) چوکاټ څه وتاکی او مخ په (۳) چوکاټ کې ولیکی

۱

د دغو کلمو مترادف
پوه
علم
اسیر
ارزښت

۲

له دې ځایه وټاکی
هوښیار ، بافکر
پوهه ، باخبري ، معلومات
بندي ، زنداني
قیمت ، قدر

۳

او مخ په دې ځای کې ولیکی

د کلمو
او معنا وو د پېژندنې
تمرین

د (۱) چوکاټ د کلمو ضد لـه (۲) چوکاټ څخه وتاکی او هغه په (۳) چوکاټ کی ولیکی

۱
د دغو کلمو ضد
بیخبری
غفلت
بد مرغی
آبرو مند ژوند

۲
لـه دی ځایه وټاکی
باخبری ، معلومات
ویښتوب ، زیار ګالل
نیکمرغی ، هوسائی
بی عزت ژوند ، خوار ژوند

۳
او هغه په دی ځای کی ولیکی

د کلمو
او معنا و د پیژندنی
تمرین

د (۱) چوکاټ د جملو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وتاکی او هغه په (۳) چوکاټ کی ولیکی

۲	۱
له دی ځایه و ټاکی	د دغو جملو مترادف
علم سړی له خواری او احتیاج نه ساتی.	باخبری او معلومات درلودل له ځان
اسلام د سواد زده کړه ضروری گڼلی ده.	سره عزت راوړی.
مسلمان باید کاریگر او خواریکښ وی.	اسلام د علم زده کړه فرض گرځولی ده
د سواد زده کړه له بیخبری نه د خلاصون	په اسلام کی غفلت ناروا دی.
یوازنی لاره ده.	د سواد زده کړه د ژغورنی ښه لاره ده

او هغه په دی ځای کی ولیکی

د مقصد بیانولو
له طریقی سره د آشنا
کیدلو تمرین

د (۱) چوکاټ د جملو ضد له (۲) چوکاټ څخه وټاکئ او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکئ

۱	۲
د دغو جملو ضد	
د سړي د هوسائي یوازینی لار	له دې ځایه و ټاکئ
باخبري ده.	بېخبره سړي د هوسائي او آرامي لري کوي
سړي په بېخبري او ناپوهي کې هوساوي.	سړي په بېخبري او ناپوهي کې بدبخت وي
غفلت بدمرغي راوړي.	زیار ګالل او کار کول نیکمرغي راوړي
خواریکښ سړي په ځان اعتماد لري	بېکاره او غافل سړي په ځان اعتماد نلري

۳

اوهغه په دې ځای کې ولیکئ

د مقصد بیانولو
له طریقې سره د آشنا کېدلو
تمرین

څلورم لوست

سخي او بخيل

رسول الله صلّى الله عليه وسلم
فرمايلي دي :
سخي خداى (ج) ته نږدې دى ،
سخي خلکو ته نږدې دى .
سخي جنت ته نږدې دى ، سخي د دوزخ له اوره لرې دى .

بخیل له خدای (ج) څخه لری دی ،
بخیل له خلکو څخه لری دی ،
بخیل له جنت څخه لری دی .
بخیل د دوزخ اور ته نږدی دی .
دخدای (ج) په نزد جاهل سخی له بخیل عابد نه ښه وی .

نوی کلمی

کلمی	معناوی
بخیل	هغه څوک چې نوروته لور ینه نلری
سخی	څوک چې له خپل مال نه نوروته څه ورکوی
جاهل	نادان
عابد	هغه مسلمان چې زیات عبادت کوی

د دغو جملو د تشو ځايونو لپاره

بخيل نوروته .... نلري .
ممسک حتی په ضرورت کی هم .... نکوی
حسدکوونکی .... غمجن کيږي .
کمونستانو له شتمنو څخه مال ....
اوبي وزلوته يي هيڅ ورنکړل .
کمونستان .... او بخيل دی .
حسد کوونکی ، بخيل او ممسک دری
واره .... دی .

له دغو کلمو څخه وټاکی
له خلکولري
حسدکوونکی
واخستل
دنورويه نيکمرغي
خرڅ
لوريينه

د معناوو د
پيژندلو
تمرين

په دغو نیمګړو جملو سره

مثال: په دفاع نه ارزي کمونستي باطله عقیده

کمونستي لومړی سبق دی د حساد بد خوی د
بل سبق دی. دبخیلي بد خوی د کمونستي
په زوره اخلي. کمونستان د خلکو شتمني

دلته بشپړه جمله جوړه کړي
کمونستي باطله عقیده په دفاع نه ارزي

د سم بیا نولو د پوهیدنې
تمرین

د درس د مقصد له مخې د هر سوال لپاره يو ځواب و ټاکئ

سوالونه
۱- سخي چاته نږدې دی ؟
۲- سخي کوم ځای ته نږدې دی ؟
۳- بخيل څه شي ته نږدې دی ؟
۴- بخيل له کوم ځای څخه ليرې دی ؟

ځوابونه

۱- خدای (ج) ته / نه پوهيږم / بخيل

۲- جنت / هيڅ ځای / کلي

۳- د دوزخ اور ته / ديوال ته / دروازې ته

۴- د ښارونه / د جنت نه / د بازار نه

د درس
د مقصد د پوهيدنې
تمرين

د (۱) چوکاټ د کلمو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کی ولیکی

۱

د دغو کلمو مترادف
بخیل
حسد کوونکی
ممسک

۲

له دی ځایه وټاکی
د لوړینی دښمن
څوک چې د نورو د نېکمرغی زوال غواړی
څوک چې د ضرورت له پاره هم خرڅ نکوی
سخی جنت ته نږدی دی

۳

او هغه په دی ځای کی ولیکی

د کلمو
او معناو د پیژندنی
تمرین

د(۱) چوکاټ د کلمو ضد له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کی ولیکی

۲	۱
له دی ځایه وټاکی	د دغو کلمو ضد
سخی	بخیل
خیرغوښتونکی	حسد کوونکی
په ځای خرڅ کوونکی	ممسک

۳

او هغه په دی ځای کی ولیکی

د کلمو
او معناو د پیژندنی
تمرین

د (۱) چوکاټ د جملو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وټاکئ او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکئ

۱

د دغو جملو مترادف
بخیل د نورو لپاره د نعمت او برکت
لور یینې نلري .
حسد کوونکی د نورو پر مال او
نعمت زوال غواړي .
کمونستان د خلکو خیر غوښتونکي نه دي

۲

له دې ځایه وټاکئ
بخیل د نورو لپاره نعمت او برکت نه غواړي.
حسد کوونکی د نورو خیر غوښتونکی نه دی.
کمونستان د نورو د نیکمرغۍ
دښمنان دي .

۳

او هغه په دې ځای کې ولیکئ

د مقصد بیانولو
له طریقې سره د آشنا
کیدلو تمرین

د (۱) چوکاټ د جملو ضد له (۲) چوکاټ څخه ولټوئ او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکئ

۲	۱
له دې ځایه ولټوئ	د دغو جملو ضد
ممسک پر پیسو تکیه کوي .	سخي د خدای (ج) په لطف تکیه کوي
سخي پر ټولو خلکو پېرزوینه لري	بخیل پر هیچا لورېینه نلري .
سخي د نورو د نعمت پریماني غواړي	حسد کوونکی د نورو د نعمت نیستي غواړي

۳

او هغه په دې ځای کې ولیکئ

د مقصد بیانولو له طریقې سره د آشنا کیدلو تمرین

پنځم لوست

داسلام لاره د نیکمرغۍ لاره ده

صدقه بلا ردوي

اې مومنه !

که چیرې له خلکو

سره له ښه اخلاق نه

کار واخلې ، دغه یوه صدقه ده .

که چیرې یو مسلمان یوې ښیګړې ته وګمارې ،

دغه یوه صدقه ده .

که چیرې یو مسلمان له یوې بدۍ واړوی ،

دغه یوه صدقه ده .

که چیرې یوه چاته چې لاره ئې ورکه کړې وي، لاره وروښیي،

دغه یوه صدقه ده .

که چیرې له یوه چا سره چې د سترګو لید ئې ضعیف وي مرسته وکړي،

دغه یوه صدقه ده .

که چیرې یوه ډبره د خلکو له لارې نه لرې کړی ،

دغه یوه صدقه ده .

که چیرې یو خوروونکی شی د عامې لارې څخه لرې کړي ،

دغه یوه صدقه ده .

خلکو ته د هر ډول هوسائی او مرستې رسول ، یوه صدقه ده.

دغه صدقې بلاوې له تاسو څخه لرې کوي .

نوې کلمې

کلمې	معناوې
صدقه	اعطاء مال بمقصد حصول اجر و ثواب
وګمارې	وهڅوي .
ضعيف	ناتوانه .

د دغو جملو د تشو ځایونو لپاره ئې

له خلکو سره هر ډول مرسته .... ده.

خلکو ته د .... یوه صدقه ده.

د خلکو له لارې څخه .... لرې کول

یوه صدقه ده.

.... یوه صدقه ده.

.... یوه صدقه ده.

له دغو کلمو څخه وټاکئ

- یوه خوړونکې شی
- یوه صدقه ده
- هوسائی رسول
- د عامې لارې آبادول
- د عامې لارې پاکول

د معناوو د پېژندلو تمرین

پہ دغونیمگړو جملو سره

مثال:

پہ دفاع نہ ارزی	کمونستی باطلہ عقیدہ
څخہ لری کوی .	صدقہ بلا لہ تا سو
یوہ صدقہ دہ .	لہ خلکو سرہ مرستہ کول
یوہ صدقہ دہ .	خلکو تہ دخیر رسول

دلتہ بشپړہ جملہ جوړہ کړی

کمونستی باطلہ عقیدہ پہ دفاع نہ ارزی

دسم بیانولو
دپوهیدنی
تمرین

د درس د مقصد له مخې د هر سوال لپاره یو ځواب وټاکی

سوالونه

۱- خلکو ته خیر رسول څه شی دی ؟
۲- صدقه ورکول څه شی دی ؟
۳- د اسلام لاره څه دول لاره ده ؟
۴- د خلکو لاری څخه د ځورونکی
شی لری کول څه شی دی ؟

ځوابونه

۱- یوه صدقه / هیڅ / جنجال

۲- ثواب او د بلا رد وونکی / ګناه / هیڅ

۳- دعا / د نیکمرغی / نه پوهیږم

۴- د سر خوږ / جنجال / یوه صدقه

د درس
د مقصد د پوهیدنی
تمرین

(۱) څوک چې د کلمو مترادف له (۲) څوک چې ځینو وتاکي او هغه په (۳) څوک چې کي ولیکي

۱ د دغو کلمو مترادف	۲ له دې ځایه وټاکي
سرټیټوب	انسانیت
د اسلام دین	د نیکمرغۍ لاره
صدقې	خیراتونه

۳

او هغه په دې ځای کې ولیکې

د کلمو
او معناو د پېژندنې
تمرین

د (۱) چوکاټ دکلموضد له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کی ولیکی

۲	۱
له دی ځایه وټاکی	ددغو کلموضد
دکمونیزم لاره دهلاکت لاره ده	داسلام لاره دژغورنی لاره ده.
دبد مرغی لاره	دنیکمرغی لاره.
دنیکمرغی لاره	دبدمرغی لاره

۳

اوهغه په دی ځای کی ولیکی

دکلمو
او معنا و د پیژندنی
تمرین

د (۱) څوک د جملو مترادف له (۲) څوک څه وتا کی او هغه په (۳) څوک کی ولیکی

۲	۱
له دی ځایه وټا کی	د دغو جملو مترادف
سپیڅلی اسلام د نیکمرغی لاره ده	د اسلام لاره د سعادت لاره ده
د خلکو خدمت هم یو	د خدای (ج) بندګانو ته خدمت
عبادت دی .	کول عبادت دی .

۳

او هغه په دی ځای کی ولیکی

د مقصد بیانولو
له طریقی سره د آشنا کیدلو
تمرین

د (۱) چوکاټ د جملو ضد له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کی ولیکی

۱

د دغو جملو ضد
اسلام د هدایت لاره ده .
کمونستان انسان یو ځناور گڼی
یو کمونست له ناحقی وینی څخه
هیڅ نه داریږی .

۲

له دی ځایه وټاکی
کمونیزم د گمراهی لاره ده .
اسلام انسان اشرف مخلوقات گڼی
یو مسلمان له ناحقی وینی څخه سخت داریږی

۳

او هغه په دی ځای کی ولیکی.

دمقصد بیانولو

له طریقی سره د آشنا کیدلو

تمرین

شپږم لوست

داسلام دين د همدردى او مرستي دين دى

داسلام مقدس دين

مسلمانانو ته داسى ارشاد كوى

او وائي :

- هرڅوك چې په دنيا كې يو مسلمان

له يوه مصيبت نه خلاص كړى ، خداى "ج" په آخرت كې

هغه له يوى سختى نه ژغورى .

- څوك چې له يوه بى وزلى او مفلس سره مرسته كوى ،

خدای «ج» په دنیا او آخرت کې د هغه لپاره آسانی
مخې ته راوړی او په دنیا او آخرت کې لس چنده
مرسته ورسره کوی .
- څوک چې د مسلمان عیب پټ کړی ،
خدای «ج» په دنیا او آخرت کی د هغه عیب
پټوی .
- مسلمان تر هغه وخته چې د خلکو
مرستندوی وی ، خدای «ج» د هغه
مرستندوی دی .
- هر مسلمان چې د علم پسې وګرځی
او د هغه د زده کړې لپاره زیار و باسی ،

خدای‌ج" دهغه‌تګ جنت ته آسانوی .

نوی کلمی

کلمی	معنا وی
جنجال	مصیبت ، دسرخوږ
مفلس	بی پیسو
مرستندوی	مرسته‌کوونکی
عیب	نقص

د دغو جملو د تشو ځايونو لپاره يُې

ته له مسلمان سره مرسته وکړه ، ....
ته يو مسلمان له يوه مصيبت نه خلاص کړه ....
ته له بې وزله مسلمان سره مرسته وکړه ، خدای (ج)
له تا سره .... کوی .
هر مسلمان چې علم زده کړي خدای (ج) ....
ته په تنګ کې له هغه سره مرسته کوی .
يو مسلمان تر هغه وخته چې د خلکو سره مرسته کوی ....

له دغو کلمو څخه وټاکی
مرسته .
جنّت .
خدای (ج) له تا
سره مرسته کوی .
خدای (ج) له هغه
سره مرسته کوی .
خدای (ج) تاد آخرت
له سختی نه ژغوری

د معناوو د پېژندلو تمرين

په دغو نیمګړو جملو سره

مثال: په دفاع نه ارزي — کمونستي باطله عقیده

خدای له تاسره مرسته کړې ده له مسلمانانو سره مرسته وکړه چې
جنت ته د تګ آسانه هر مسلمان چې علم زده کړي خدای
خدای لس چنده په دنیا ته چې له بې وزلو مسلمانانو سره مرسته وکړي
او آخرت کې له تاسره مرسته کوي.

تمرین

دسم بیانولو د پوهیدنې

دلته بشپړه جمله جوړه کړي

کمونستي باطله عقیده په دفاع نه ارزي

د درس د مقصد له مخې د هر سوال لپاره یو ځواب وټاکی

سوالونه

۱ - له بې وزلی سره مرستې په بدل کې خدای (ج) په دنیا کې څومره له تا سره مرسته کوي ؟

۲ - له بې وزلی سره د مرستې په بدل کې خدای په آخرت کې څومره مرسته در سره کوي ؟

۳ - ته چې د مسلمانانو سره مرسته کوي، څوک له تا سره مرسته کوي ؟

۴ - ته چې د یو مسلمان عیب پټ کړې خدای (ج) په کوم ځای کې ستا عیب پټوي ؟

ځوابونه

۱- یو چنده
لس چنده
سل چنده

۲- سل چنده
یو چنده
لس چنده

۳- بخت
خدای (ج)
قسمت

۴- په بنارکی
په کلی کی
په دنیا او آخرت کی

د درس
د مقصد د پوهیدنی
تمرین

د (۱) چوکاټ د کلمو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وټاکئ او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکئ

۲	۱
له دې ځایه وټاکئ	د دغو کلمو مترادف
سترګې پټول ، عیب نه ویل	عیب پوښل
بې وزله ، غریب ، نادار ه	مفلس
کومک کول ، لاس نیوی	مرسته کول
پوهه ، معلومات درلودل ، باخبري	علم

۳

اوهغه په دې ځای کې ولیکئ

دکلمو
اومعناوو د پېژندنې
تمرین

د (۱) څوکا د کلمو ضد له (۲) څوکا څخه وټاکی او هغه په (۳) څوکا کی ولیکی

۲	۱
له دی ځایه وټاکی	د دغو کلمو ضد
عیب لټول ، عیب کتل	عیب پوښل
غنی ، دنیاداره ، موړ	مفلس
ناپوهی ، نادانی .	علم
بی‌خیری ، مرسته نکول	مرسته‌کول

۳

او هغه په دی ځای کی ولیکی

د کلمو او معناو د پیژندنی تمرین

د (۱) چوکاټ د جملو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وتاکئ او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکئ

۱
د دغو جملو مترادف
د مسلمانانو مرستندوی اوسه!
د خپل مسلمان ورور عیب پټ کړه!
له بې وزلې سره مرسته وکړه!

۲
له دې ځایه وټاکئ
د مسلمانانو لاس نیوی وکړئ!
د مسلمان له عیب نه سترګې پټې کړه!
له مفلس او نادار سره کومک وکړه

۳
او هغه په دې ځای کې ولیکئ

د مقصد بیانولو
له طریقې سره د آشنا کېدلو
تمرین

د ۱ چوکاټ د جملو ضد له ۲ چوکاټ څخه وټاکی او هغه په ۳ چوکاټ کی ولیکی

۱

ددغو جملو ضد
له خوارانو سره مرسته کول.
عیب لټول ستره ګناه ده .
خوار یکش سړی .
ناپوه په تیاره کی ژوند کوی .

۲

له دی ځایه و ټاکی
له بی وزلو او خوارانو سره مرسته نکول
د نورو د عیب پټول اجر او ثواب لری
بیکاره او تنبل سړی .
عالم او پوه د علم په روښنا کی ژوند کوی

۳

او هغه په دی ځای کی ولیکی

دمقصد بیانولو

له طریقی سره د آشناکیدلو

تمرین

اووم لوست

د جهاد فضیلت او مرتبه

د خدای "ج" په لاره

کې جهاد ډیر فضیلت لري .

حضرت محمّد "ص" فرمایلي دي:

د خدای "ج" په لاره کې یو سهار یا یو

ماښام جهاد کول ښه دي له ټولې نړۍ او هر هغه څه چې په دې

نړۍ کې وي .

مونږ مسلمانان د خدای "ج" د رضا لپاره جهاد کوو.

کله چې زمونږ پت او عزت، ناموس، هیواد او خلک په
خطر کې وي، پر مونږ فرض ده چې د یرغلګرو په وړاندې
وجنګیږو. داسې جګړه، عادلانه جګړه او جهاد دی،
چه د خدای (ج) په وړاندې ډیره لوړه مرتبه لري.
که چیرې مونږ د یرغلګرو روسانو په مقابل کې جهاد
نه وای کړی، هغوی زمونږ له هیواد نه نه وتل او -
مونږ به ئې د خپل ځان اسیران او غلامان ګرځول.
څرنګه چې مونږ مسلمانان د خدای (ج) د رضا د لاسته
راوړلو لپاره جهاد کوو، نو لازمه ده چې د اسلامي هدایاتو
او لارښوونو سره سم عمل وکړو. پخپل سر او له تحقیق نه
پرته هیڅوک ونه وژنو. ځکه خدای (ج) د هغو کسانو

وژنه چې کفریې په واضح توګه معلوم او ښکاره نه وي ،
منع کړي او فرمائي :

ای مؤمنانو![1] کله چې د جهاد په نیت سفر کوئ ، نو سم معلومات تر لاسه کړئ او هغو کسانو ته چې تاسو ته سلام درکوي او کلمه وائي ، مه وائئ چې مسلمان نه ئې .

د پیغمبر « ص » په وخت کې صحابهٔ کرام « رض » جهاد ته تلل ، ناڅاپه یو پردي سړي مخې ته ورغی ، هغه سړي مجاهدینو ته سلام وکړ او ویې ویل چه زه مسلمان یم . مجاهدینو ګمان وکړ چې شاید هغه د دښمن له دلې وي او د مرګ له داره د اسلامیت دعوا کوي . یو تن مجاهد توره ، را وایسته او هغه ئې وواژه . کله چې مدینې منورې ته ورسیدل او

(۱) ۹۴ - آیه د نساء سورة

پیښه ئې د حضرت محمد «ص» حضور ته وویله ، پیغمبر «ص»

پر هغه مجاهد چې پردې سړي لاس وژلی وو ، په قهراو

غضب شو .

هغه مجاهد وویل : ای پیغمبر (ص) ! هغه له داره د

اسلامیت دعوا کوله خو په زړه کې کافر وو . پیغمبر «ص» په

ځواب کې وفرمایل : آیا تا د هغه زړه څیرې کړ او ودې لید ؟

پیغمبر «ص» دغه جمله څو ځله تکرار کړه ، ترڅو چې نوموړی مجاهد

له خپلو کړو پښیمانه شو .

کلمې	معناوې	کلمې	معناوې
فضیلت	ښه والی ، درجه	غلام	نوکر
فرمایلې	ویلې	واضح	ښکاره ، معلومداره
یرغلګر	تیری کوونکی	تکرار	څو ځله ، څو واره
عادلانه	په حق		

ریښتینی جهاد

پیغمبر (ص)، فرمایلی دی:

جهاد دوه ډوله دی.

لومړی: دهغه چا جهاد دی چې خاص د خدای «ج» د رضا
او خوښې لپاره جهاد کوی. خپل شته او دارائی د جهاد
او اسلام د بریالیتوب لپاره مصرفوی. له خپل مسلمان
ورور او همسنگر مجاهد سره له اتحاد، یووالی او صداقت
څخه کار اخلی. خپل امیر ته اطاعت کوی. د مجاهدینو
په منځ کې د فتنې، فساد او نفاق اچولو نه ډډه کوی.
نو د دغه ډول مجاهد، خوب او ویښتیا د هغه لپاره اجر

او ثواب دی .

دوهم: د هغه چا جهاد دی چې د نام ، شهرت او مال دلاس ته راوړلو لپاره په ریاکارۍ سره جهاد کوی له خپلی شتمنی څخه هیڅ شی هم جهاد ته نه ورکوی خپل امیر ته اطاعت نه کوی، نو دغه سړی له خپل جهاد نه دومره ثواب نه گټی چې دده د گناهانو سره برابر شی .

نوی کلمی

کلمی :	اطاعت	فتنه	نفاق
معناوی:	امر منل	شراچول ، نفاق اچول	بی اتفاقی

د دغو جملو د تشو ځایونو لپاره یې

د خدای «ج» کې جهاد کول ډیر .... لري. (په لاره)

مونږ مسلمانان د خدای (ج) د .... لپاره جهاد کوو.

مونږ مجاهدین باید څوک .... و نه وژنو.

ښه مجاهد خپل .... د جهاد په لاره کې مصرفوي

څوک چې د .... د لاس ته راوړلو لپاره

جهاد کوي حقیقي مجاهد نه دی.

له دغو جملو څخه وټاکئ

پخپل سر

شته او مال

اجر او فضیلت

شهرت او نام

رضا او خوښي

د معناوو د پېژندلو تمرین

پہ دغو نیمګړو جملو سره

مثال:

پہ دفاع نہ ارزي	کمونستي باطلہ عقیدہ
کول دي فضیلت لري	د خدای (ج) پہ لاره کي جهاد
پہ لاره کي جهاد کوو	مونږ مسلمانان د خدای (ج)
کي خپل شتہ او مال مصرفوي	بنہ مجاهد د جهاد پہ لاره

دسم بیانولو د پوهیدني تمرین

دلتہ بشپړه جملہ جوړه کړی

کمونستي باطلہ عقیده پہ دفاع نہ ارزي

د درس د مقصد له مخې د هر سوال لپاره یو ځواب وټاکئ

سوالونه	ځوابونه
۱- مومنین مسلمانان د څه لپاره جهاد کوي ؟	۱- د خدای (ج) د رضا لپاره / د شهرت او نام لپاره / د پیسو لپاره
۲- مجاهد باید د خپل همسنګر ورور سره څه وکړي ؟	۲- همکاري / بدي / هیڅ
۳- د پیغمبر (ص) وینا له مخې جهاد څو دوله دی ؟	۳- دوه دوله / پنځلس دوله / یو دول
۴- روسان څه دول خلک دي ؟	۴- ملحد، یرغلګر، او وحشي / نه ښه او نه بد / ښه

د درس
د مقصد د پوهیدنې
تمرین

د (۱) چوکاټ د کلمو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وټاکئ او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکئ

۲	۱
له دې ځایه وټاکئ	د دغو کلمو مترادف
لارښوونې	هدایات
شک	گمان
قهر او غوصه	غضب

۳

اوهغه په دې ځای کې ولیکئ

د کلمو
او معنا و د پېژندنې
تمرین

د (۱) چوکاټ د کلمو ضد له (۲) چوکاټ څخه وټاکۍ او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکئ

۲	۱
له دې ځایه وټاکئ	د دغو کلمو ضد
فساد او نفاق	اصلاح
کافر - ملحد	مسلمان
نفاق - بیلتون	اتحاد
گناه - جرم	ثواب

۳

او هغه په دې ځای کې ولیکئ

د کلمو او معناوو د پیژندنې تمرین

د (۱) چوکاټ د جملو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کی ولیکی

۱

د دغو جملو مترادف
د خدای (ج) په لاره کی جهاد ډیر فضیلت لری .
مسلمانان د خدای (ج) په لاره کی جهاد کوی
ښه مجاهد ځان د خدای (ج)
په لاره کی شهید وی .

۲

له دی ځایه وټاکی
د خدای (ج) لپاره جهاد کول اجر لری .
مؤمنین د خدای (ج) د رضا حاصلولو
لپاره جهاد کوی .
ښه مجاهد د خدای (ج) په لاره کی
له شهید کیدلو څخه ځان نه سپموی .

۳

او هغه په دی ځای کی ولیکی

د مقصد بیانولو

له طریقی سره د آشنا کیدلو

تمرین

د (۱) جوکاټ د جملو ضد له (۲) جوکاټ څخه وتاکي او هغه په (۳) جوکاټ کي وليکي

۲	۱
له دي ځايه وټاکي	د دغو جملو ضد
يو کمونست په ناحقه خلک وژني	يو مسلمان په ناحقه څوک نه وژني.
کفار د دنيائي مال او شتو د لاس	مسلمانان د خداى (ج) د رضا لپاره
ته راوړلو لپاره جنګيږي.	جهاد کوي.
رياکاره مجاهد د خداى (ج) لپاره	نه مجاهد ځان د خداى (ج) په لاره
د شهيد کيدلو نه ډډه کوي	کي شهيد وي.

۳

او هغه په دي ځاى کي وليکي

د مقصد بيانولو
له طريقي سره آشنا کيدلو
تمرين

اتم لوست

په جهاد کې لازمي لارښوونې



داسلام سپېڅلی دین
د ورورۍ، مرستې او همکارۍ
مینې او دوستۍ، مهربانۍ
او بشردوستۍ دین دی
حضرت پیغمبر (ص) او خلفای
راشدینو هم مجاهدین او مسلمانان د ښو او غوره کارونو
په کولو هڅول. لکه څنګه چې د لومړي خلیفه (حضرت ابوبکر صدیق (رض))

دخلافت په وخت کې کله چې مجاهدینو د شام په لور حرکت

کاوه ، حضرت ابوبکر صدیق .رض. دوی ته داسې لارښوونې

وکړې :

۱ ـ ښځې ، سپین ږیري او ماشومان مه وژنئ .

۲ ـ د مړو ، لاس ، پښه ، غوږ ، پزه ، او یا د بدن نورې

حصې مه غوڅوئ .

۳ ـ راهبانو او عبادت کوونکو ته تکلیف مه رسوئ او د هغوی

د عبادت ځایونه مه ورانوئ .

۴ ـ میوه لرونکې ونې مه غوڅوئ او کروندو ته اور مه اچوئ .

۵ ـ د خلکو کورونه مه ورانوئ .

۶ ـ څاروي مه وژنئ .

۷ - په هیڅ صورت خپل هوډ مه ماتوی .

۸ - هغه څوک چې اطاعت کوی د هغوی ځان او مال لکه د نورو مسلمانانو د ځان او مال په توګه محترم وګڼئ .

۹ - د غنیمت په مال کې خیانت مه کوی .

۱۰ د جګړې په وخت کې د خپلې کیدې د مزولو په فکر کې مه اوسی .

کلمې	معناوې
شام	د سوریې د مملکت پخوانی نوم وی .
بشردوستی	انسان ته په ښه نظر کتل .
همکاری	له یو بل سره مرسته کول .
راهب	د کلیسا وعظ کوونکی .
اطاعت	فرمان منل .
هوډ	عهد ، قول
تکلیف	ځور ، آزار
غنیمت	هغه مال چې د کفارو سره په جګړه کې د مسلمانانو لاس ته راځی .

د دغو جملو د تشو ځايونو لپاره ټي

داسلام سپېڅلي دين د .... دين دی.
ښځې، سپين ږيري او ماشومان ....
د خلکو .... مه ورانوی .
څاروی ....
د غنيمت په مال کې .... مه کوی .

له دغو کلمو څخه وټاکی

کوروونه
مه وژنی
مرستې او همکاری
خيانت
مه مره کوی

دمعناوو دپېژندلو
تمرين

په دغو نیمګړو جملو سره

مثال:

په دفاع نه ارزي	کمونستي باطله عقیده
دهمکاراو مرستي دي دين .	داسلام سپېڅلی دين
خيانت مه کوی .	دغنیمت په مال کې
مه ورانوی .	دخلکو کورونه

دلته بشپړه جمله جوړه کړی
کمونستي باطله عقیده په دفاع نه ارزي

دسم بیانولو د پوهیدنی

تمرین

د درس د مقصد له مخې د هر سوال لپاره یو ځواب وټاکئ

سوالونه	ځوابونه
۱ـ د اسلام سپېڅلی دین څه ډول دین دی ؟	۱ـ ورورولي او همکارۍ / نه ښه او نه بد / نه پوهېږم
۲ـ د جګړې په وخت کې له راهبانو سره باید څه ډول رفتار وکړو ؟	۲ـ تکلیف ورنه کړو / تکلیف ورسوو / مرسته یې کړو
۳ـ څوک چې اطاعت کوي له هغو سره څه وکړو ؟	۳ـ مهرباني / قهر او غضب / دواړه
۴ـ د مسلمانانو لومړی خلیفه څوک و ؟	۴ـ حضرت ابوبکر (رض) / حضرت علي (رض) / حضرت عمر (رض)

د درس
د مقصد د پوهېدنې
تمرین

د (۱) چوکاټ د کلمو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کی ولیکی

۱

د دغو کلمو مترادف
دوستی
راهب
څاروی

۲

له دی ځایه وټاکی
مینه او محبت
د کلیسا وعظ کوونکی
حیوانات

۳

او هغه په دی ځای کی ولیکی

د کلمو او معناو د پیژندنی تمرین

د ۱ چوکاټ د کلمو ضد له ۲ چوکاټ څخه وټاکۍ او هغه په ۳ چوکاټ کې ولیکئ

۱
د دغو کلمو ضد
دوستي
ورانول
حرکت

۲
له دې ځایه وټاکئ
دښمني
آبادول
دریدل

۳
او هغه په دې ځای کې ولیکئ

د کلمو
او معنا وو د پېژندنې
تمرین

د (۱) چوکاټ د جملو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وټاکئ او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکئ

۲	۱
له دې ځایه وټاکئ	د دغو جملو مترادف
د اسلام دین د ورورولۍ او مرستې	د اسلام سپېڅلی دین د ورورۍ
دین دی .	او همکارۍ دین دی .
د خلکو کورونه له منځه مه وړئ.	د خلکو کورونه مه ورانوئ .
هیڅ کله خپله قوله مه اوړئ .	په هیڅ صورت خپل هوډ مه ماتوئ.

۳

او هغه په دې ځای کې ولیکئ

د مقصد بیانولو

له طریقې سره د آشنا کیدلو

تمرین

د دې ټوټو د جملو ضد له دې ټوټو څخه وټاکی او هغه په دې ټوټو کی ولیکی

۲ — له دې ځایه وټاکی	۱ — د دغو جملو ضد
کمونیزم د ووړو وژنی او ورانی لاره ده	اسلام د مرستی او همکاری دین دی.
	مسلمانان د خلکو کورونه ساتی.
کمونستان د خلکو کورونه ورانوی	مسلمانان په جګړه کی مړو ته بی احترامی نکوی
کمونستان د جګړی مړو ته بی احترامی کوی	

۳

او هغه په دې ځای کی ولیکی

د مقصد بیانولو

له طریقی سره آشنا کیدلو

تمرین

نهم لوست

اسیر

اسیر هغه څوک دی
چې په جګړه کې نیول شوی
وي .
د اسلام سپیڅلی دین
مونږ ته لارښوونه کوي ، له هغو اسیرانو سره چې په جګړه کې
د مسلمانانو له خوا نیول کیږي ، ښه وکړو . د اسیر بې احترامي
ونکړو ، یعني هغه ته ښکنځلې ونکړو ، هغه ونه وهو او وږی

اوتږي ئې ونه ساتو .

خدای .ج . په قرآن عظیم الشان کې د هغه چا ستاینه

کړې چې اسیر ته دوډۍ ورکوي .

وائي چې : یوه ورځ حضرت علی .رض . او حضرت بی بی فاطمې

روژه نیولې وه . بی بی فاطمې .رض . د روژه ماتی لپاره دوربشو

یوه دوډۍ پخه کړې وه . کله چې ئې غوښتل خپله روژه ماته

کړي ، یوه سړي دروازه وټکوله او رږغ ئې وکړ چې زه بې وزله

او وږی یم ، که کوم شی دخوړلو لپاره لرې نو ماته ئې راوړي .

حضرت علی .رض . د بی بی فاطمې .رض . په مشورې سره

دوربشو دوډۍ هغه بې وزلي ته ورکړه او پخپله ئې په اوبو

روژه ماتې وکړ او ویده شول او دوهمه ورځ ئې په ورته نفسۍ

روژه ونیوله .

حضرت بی بی فاطمی "رض" په دغه ورځ هم د روژه ماتی
لپاره د وربشویوه د ودی پخه کړه . کله چې ماښام شو
او وئی غوښتل چې په دغی د ودی خپله د وه ورځنی
د وزه لری کړی ، ناڅاپه ور وټکول شو او داخل یوسړی
بنغ وکړ چې زه وږی یتیم یم ، که کوم شی لری نورائې
کړی . حضرت علی "رض" داخل هم د بی بی فاطمی "رض"
په مشوري سره د وربشو د ودی هغه یتیم ته ورکړه
اود وی پخپله لکه د تیری ورځې په شان په اوبو روژه ماتی
وکړ او وږی ویده شول . د ریمه ورځ لې هم په وږی نس
روژه ونیوله . بی بی فاطمی "رض" په دغه ورځ هم

دمابنام لپاره دوربشودودی پخه کره کله چې مابنام شواو

غوښتل ئی چی خپله روژه ماته کړی ، ناڅاپه دتیری

ورځې په شان د روازه وټکوله شوه اودا ځل

بزغ پورته شوچې زه وزی اسیریم که کوم شی

لری نوراته رائې ورې .

حضرت علی «رض» دبی بی فاطمی «رض» په موافقی

سره دغه وربشودودی هم هغه اسیرته ورکړه او

دوی پخپله ددریمی ورځې لپاره په هغه وږی حالت

شپه تیره کړه .

له دغې پلیټې نه وروسته خدای (ج)

د دوی په ستاینه کې څو آیتونه

نازل کړی چې یوځی دادی :

وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِ مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا ۝ [1]

[1] ترجمه : او (نیکوکاران هغه کسان دي چي دخپل احتیاج سره دوډی ورکوي هغه ، بې وزلي ته ، یتیم ته او اسیر ته) . ۸ آیه د «دهر» سورة ۲۹ جزء

نوي کلمې :

کلمې	ښکنځله	
معناوي	بده او سپکه خبره	

دد غو جملو د تشو ځايونو لپاره ئي

اسیر هغه څوک دی چې په .... کې

نیول شوی وی .

باید له جنګی اسیرانو سره .... وکړو

باید اسیران .... پری نږدو .

باید اسیران ....

باید اسیرانو ته .... ونکړو .

له دغو کلمو څخه وټاکی

وږی او تږی

ونه وهو

شکنځل

ښه رویه

جګړه

د معناوو د پیژندلو تمرین

په دغو نیمګړو جملو سره

مثال،

په دفاع نه ارزي	کمونستي باطله عقیده
جګړه کې نیول شوي وي.	اسیر هغه څوک دی چې په
رویه وکړو.	له اسیرانو سره باید ښه
تېری پرې نزدو .	باید اسیران وژني او

تمرین

د سم بیانولو دپوهیدني

دلته بشپړه جمله جوړه کړی
کمونستي باطله عقیده په دفاع نه ارزي

د درس د مقصد له مخې د هر سوال لپاره يو ځواب وټاکی

سوالونه	ځوابونه
۱ـ څوک چې په جګړه کی نيول کيږی څه ورته وائی ؟	۱ـ اسير / دوست / غر يېکار
۲ـ مسلمانان له جنګی اسيرانو سره څه دول رويه کوی ؟	۲ـ ښه رويه / بده رويه / نه ښه اونه بده
۳ـ جنګی اسيرانو ته شکنجل کول څرنګه کاردی ؟	۳ـ ښه کار / بد کار / نه پوهيږم
۴ـ خدای(ج) په قرآن عظيم الشان کی هغو خلکو ته چې اسير ته دوډی ورکوی څه ويلی دی ؟	۴ـ ستاينه يې کړی ده / قهر او غضب يې کړی دی / هيڅ

د درس
د مقصد د پوهيدنې
تمرين

(۱) چوکاټ د کلمو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کی ولیکی

۱

د دغو کلمو مترادف
ستاینه
اسیر
بی وزله

۲

له دی ځایه وټاکی
ثنا او صفت
یرغمل ، بندی
غریب ، فقیر

۳

او هغه په دی ځای کی ولیکی

د کلمو او معناو د پیژندنی تمرین

(۱) چوکاټ د کلمو ضد له (۲) چوکاټ څخه وټاکئ او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکئ

۱
د دغو کلمو ضد
بده ای
احترام
د وړوکو ټولګی کول او مرسته کول

۲
له دې ځایه وټاکئ
بې وزله ، غریب
بې احترامي ، سپکاوی
مرسته نه کول

۳
او هغه په دې ځای کې ولیکئ

د کلمو
او معناوو د پېژندنې
تمرين

د (۱) چوکاټ د جملو ترادف له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کی ولیکی

۱

د دغو جملو ترادف
مسلمانان د اسیرانو حقوق محترم گڼی
مسلمانان اسیرانو ته آزار او تکلیف نه ورکوی
اسلام اجازه نه ورکوی چې
اسیران وږی او تږی وساتو.

۲

له دې ځایه وټاکی
مسلمین د یرغملو حقوق رعایت کوی.
مسلمین اسیران نه ځوروی.
اسلام مسلمانان د اسیرانو له وږی
او تږی ساتلو نه منع کوی.

۳

او هغه په دې ځای کې ولیکی

د مقصد بیانولو
له طریقې سره د آشنا کیدلو
تمرین

د (۱) چوکاټ د جملو ضد له (۲) چوکاټ څخه وټاکئ او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکئ

۱

د دغو جملو ضد
مسلمانان د اسیرانو حقوقو ته احترام کوي
مسلمانان اسیران وږي او تږي نه پرېږدي
مسلمانان پر اسیرانو ظلم نه کوي .

۲

له دې ځایه وټاکئ
کمونستان د اسیرانو حقوق تر پښو لاندې کوي
کمونستان اسیرانو ته ډوډۍ او اوبه نه ورکوي
کمونستان پر اسیرانو ظلم کوي .

۳

او هغه په دې ځای کې ولیکئ

د مقصد بیانولو
له طریقې سره د آشنا کېدلو
تمرین

لسم لوست

اتحاد

اتحاد د خدای (ج) د

خوښی سبب گرځی

د مسلمانانو په منځ کې نفاق

اصول د شیطان کار دی

اتحاد د مسلمانانو په منځ کې دوستی او محبت زیاتوی .

نفاق د مسلمانانو په منځ کې بد مرغی زیاتوی .

خدای ج . په اتحاد کې برکت اچوی .

مونږ مسلمانان باید په خپلو تولو کارونو کې په خپلو منځو کې اتحادو لرو

زمونږ اتحاد د اسلام د دشمنانو د ماتې سبب ګرځي .

تاسو د خدای ج . دلاری مجاهدینو به لیدلی وی ، په هره

جبهه کې چې اتحاد وی ، د دښمن ډیر زر ماتې خوری او له منځه ځي .

نو مونږ مسلمانان او د خدای ج . دلاری مجاهدین په هر ځای کې

چې یو او یا په هر تنظیم کې چې وو ، باید په خپلو کې سره اتحاد او یو والی

ولرو او باید خپل اسلامی اتحاد او دینی وروروالی وساتو .

ټول جهادی تنظیمونه ګډ هدف لری او هدف ئې د یوه اسلامی

حکومت منځ ته راوړل دی .

نو باید نه پریږدو چې زمونږ په لیکو کې د اسلام د دشمنان لاره پیدا کړی

او مونږ له يو بل نه جلا کړي .

هو ! د اسلام د ښمنان تل کوشش کوي چې زمونږ په منځ کې نفاق او بيلتون راولي . خو مونږ بايد په ډيري هوښياري د هغوی ناپاکي ښيري وپيژنو او د اسلامي قوانينو له مخې دوی د خپلو کړو په جزا ورسوو .

نوي کلمې :

کلمې :	اتحاد	بد مرغي	نفاق
معناوي :	يو والی	بد بختي ، مصيبت	بې اتفاقي ، اختلاف

د دغو جملو د تشو ځايونو لپاره ئي

.... د خدای (ج) د خوښۍ سبب ګرځي.
د مسلمانانو ترمنځ ...... اچول د شيطان کار دی.
خدای (ج) په اتحاد کي ...... اچوي.
ټول جهادي تنظيمونه .... لري.
زمونږ اتحاد د دښمن د ..... سبب ګرځي.

له دغو کلمو څخه وټاکئ
برکت
ګډ هدف
اتحاد
نفاق
ماتې

د معناوو د پېژندلو

تمرين

پہ دغو نیمګړو جملو سره

مثال:

پہ دفاع نہ ارزي کمونستي باطلہ عقیدہ
سبب ګرځي . اتحاد د خدای «ج» دخوښی
اچول د شیطان کاردی دمسلمانانو ترمنځ نفاق
اچوی . خدای «ج» پہ اتحادکی برکت

دلتہ بشپړہ جملہ جوړہ کړی

کمونستي باطلہ عقیدہ پہ دفاع نہ ارزي

تمرین
دسم بیانولو دپوهیدنی

د درس د مقصد له مخې د هر سوال لپاره یو ځواب وټاکئ

سوالونه
۱- اتحاد د چا په ګټه دی ؟
۲- د مسلمانانو تر منځ نفاق اچول د چا کار دی ؟
۳- نفاق د مسلمانانو تر منځ کوم شی زیاتوی ؟
۴- زمونږ یووالی د چا د ماتی سبب کیږی ؟

ځوابونه

۱- د مجاهدینو / د دښمنانو / د هیچا

۲- شیطان / خلک / هیڅ

۳- بد مرغی / نیکمرغی / درد

۴- د اسلام د دښمنان / روسان / خلک

د درس
د مقصد د پوهیدنی
تمرین

(۱) چوکاټ دکلمو مترادف (۲) چوکاټ تخنه وتاکی اوهغه په (۳) چوکاټ کې ولیکی

۱

د دغو کلمو مترادف
اتحاد
نفاق
هدف

۲

له دی ځایه وتاکی
یووالی ، وحدت
بی اتفاقی ، اختلاف
مقصد ، مرام

۳

اوهغه په دی ځای کې ولیکی

دکلمو او معناوو
دپیژندنی
تمرین

د (۱) چوکاټ د کلمو ضد له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کی ولیکی

۲	۱
لاندی ځای وټاکی	د دغو کلمو ضد
نفاق، بیلتون، بی اتفاقی	اتحاد
دوستان	دښمنان
کمونستی حکومت	اسلامی حکومت

۳

او هغه په دی ځای کی ولیکی

د کلمو
او معناو د پیژندنی
تمرین

(۱) چوکاټ د جملو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وټاکئ او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکئ

۱

د دغو جملو مترادف
اتحاد د خدای د خوښې سبب کیږي.
اتحاد په مسلمانانو کې مینه او ورورولي زیاتوي
اتحاد د اسلام د دښمنانو د ماتې سبب کیږي.

۲

له دې ځایه وټاکئ
په یووالي او اتحاد خدای خوشحاله کیږي.
یووالی په مسلمانانو کې همکاري او مرسته کول زیاتوي.
وحدت او یووالی د اسلام دښمنانو ته ماتې ورکوي.

۳

او هغه په دې ځای کې ولیکئ

د مقصد بیانولو له طریقې سره د اشنا کیدلو تمرین

(۱) چوکاټ د جملو ضد له (۲) چوکاټ څخه وټاکئ او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکئ

۱
د دغو جملو ضد
اتحاد دوستي او مینه منځ ته راوړي.
اتحاد د اسلام د دښمنانو د ماتې سبب کیږي
اتحاد د خدای د خوښۍ سبب کیږي

۲
له دې ځایه وټاکئ
نفاق دښمني او بې اتفاقي منځ ته راوړي
نفاق د اسلام د دښمنانو د بریالیتوب سبب کیږي
نفاق د خدای د نارضایتي سبب دی.

۳
او هغه په دې ځای کې ولیکئ

د مقصد بیانولو

له طریقې سره د آشنا کېدلو

تمرین

یوولسم لوست

اسلامي حکومت

هغه مسلمانان چې
په یوه مملکت کې ژوند کوي
باید د خپل ځان لپاره یو اسلامي
حکومت جوړ کړي .

یوائې یو اسلامي حکومت کولای شي چې خلک د اسلامي

قوانینو اولاربنسوونو په چوکاټ کې وروزي او د ظلم

او بیعدالتی ، فسق او فساد ، نفاق او ورور وژنی ، خیانت او

د خلکو د ځورولو څخه مخ نیوی وکړی ، مسلمانان وحدت

او یووالی ته راوبولی ، د هیواد د نظم او اصلاح په خاطر پر

خلکو باندی د شریعت حکم جاری کړی له ظالم څخه د مظلوم

حق واخلی ، له دنیادارو خلکو څخه عشر او زکات راټول

او بې وزلی ، فقیر ، مسکین ، بیچاره ، معیوب او نورو مستحقینو ته ئې

ورکړی . اسلامی حکومت باید په هیواد کې د فساد نه د مخنیوی

په خاطر پرتولو خلکو یو دول د حضرت محمد "ص" شریعت

تطبیق کړی .

همدغه دول د هیواد د اولادونو د سالمی روزنې په خاطر مکتبونه ،

مدرسې او پوهنتونونه او د هیواد د پر مختګ لپاره کارخانې
جوړې کړي . کرهنې ته وده ورکړي او د ول د ول ناروغتونونه
د مخنیوي په خاطر روغتونونه جوړ کړي ، همدارنګه نور د ول
د ول پروژې لکه فابریکې ، سړکونه او پلونه او داسې نور هم جوړ کړي .
اسلامي حکومت کولای شي د اسلام او ګران هیواد د ښمنانو
د تیري د شنډولو لپاره یو منظم اردو جوړ کړي . د ضرورت
په اندازه وسلې او جنګي مهمات را ټول او د ضرورت په وخت
کې له هغونه ګټه واخلي .
کله چې په یو مملکت کې داسې یو اسلامي حکومت رامنځ ته شي نو رنو
خلک له ټولو دردونو او مصیبتونو څخه خلاصیږي او خوښ
او خوشحاله خپل ژوند ته دوام ورکوي او د هر راز فتنې

او فساد د را منځ ته کیدو نه مخنیوی کیږی.

نوی کلمې

کلمې	معناوی
عشر	د هغو محصولاتو لسمه برخه چې د زکات په ډول ورکول کیږی
تطبیق	عملی
شریعت	طریقه ، دین
وحدت	یووالی

د ذمّي حقوق

داسلام سپیڅلی دین په ټولنه کې د ټولو میشته افرادو
حقوقو ته احترام کوي . ټوله دی کبله په یو اسلامي حکومت کې
د ذمي حقوق خوندي دي . اهل ذمه یا ذمي هغه کافران دي
چې په یو اسلامي هیواد کې ژوند کوي او د اسلامي دولت
تابع دي لکه زمونږ په ګران هیواد افغانستان کې هندو
اتباع .

پیغمبر «ص» فرمایلي دي : د اهل ذمه یا ذمي وینه
مال او عزت لکه د مسلمان ، وینه ، مال او عزت خوندي دي .

د اسلام دوهم خلیفه حضرت عمر فاروق .رض، د خپلې مړینې په وخت کې وویل : زه هغه چا ته چې وروسته له ما د مسلمانانو خلیفه کیږي، وصیت کوم چې د اهل ذمه حقوق محترم وګڼي .

نوې کلمې :

کلمې :	معناوې
حقوق	د حق جمع
تابع	اطاعت کوونکی
خلیفه	د مسلمانانو امیر

د مستأمن حقوق

د اسلام په سپیڅلی دین کی د مستأمن حقوق خوندی دی . هیڅوک حق نلری چې د مستأمن پر ځان ، مال او عزت باندی تیری وکړی .

مستأمن هغو کفاروته ویل کیږی چې له اسلامی دولت نه ئې اجازه غوښتې او اسلامی مملکت ته راغلی وی . نوله دی کبله هغه کفار چې د کارشناس په حیث او یا د تجارت لپاره او یا د کارکولو لپاره یوه اسلامی مملکت ته داخل شی ، مستأمن ورته ویل کیږی . د هغوی ځان ، مال

او عزت هم خوندی دی او هیڅ څوك حق نلری
چې پر هغوی تیری وکړی .

ددغو جملو د تشو ځايونو لپاره ئی

اسلامي حکومت مسلمانان ...... ته رابولي .

اسلامي حکومت د ټولنې د اصلاح لپاره ...... پر ځای کوي

...... د نده لري چې له ظالم څخه د مظلوم حق واخلي .

د اسلام سپیڅلي دین د ټولو حقوق ...... ګڼي .

هیڅ څوک حق نلري چې د ذمي او مستامن پر

حقوقو ...... وکړي .

له دغو کلمو څخه وټاکی

- د شریعت حکم
- تیری
- یووالی
- اسلامي حکومت
- محترم

د معناوو د پیژندلو تمرین

په د غونیمګړو جملو سره

مثال: په دفاع نه ارزی کمونستی باطله عقیده

درناوی کوی . داسلام دین دټولو حقوقو
مستأمن حقوق خوندی دی . داسلام په دین کې د
چې خلک سم وروزی . یوائی اسلامی حکومت کولای شی

دلته بشپړه جمله جوړه کړی

کمونستی باطله عقیده په دفاع نه ارزی

دسم بیانولو دپوهیدنی

تمرین

د درس د مقصد له مخې د هر سوال لپاره یو ځواب وټاکئ

ځوابونه		سوالونه
درناوی ورته کیږي / له منځه نه ځي / تربیوي اندازې مراعات کیږي	۱-	۱- حضرت عمر (رض) د اهل ذمه د حقوقو په هکله څه ویلي دي؟
خوندي دي / تر پښو لاندې دي / حق نلري	۲-	۲- په اسلامي حکومت کې د اهل ذمه حقوق څرنګه دي؟
ظالم / دوست / ورور	۳-	۳- د مظلوم حق باید له چانه واخستل شي؟
قصاص کیږي / عفو کیږي / مکافات کیږي	۴-	۴- په اسلامي حکومت کې له قاتل سره څرنګه رویه کیږي؟

د درس
د مقصد د پوهیدنې
تمرین

د (۱) چوکاټ د کلمو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکی.

۱

د دغو کلمو مترادف
شریعت
بې وزله
کارخانې «د کارځای»

۲

له دې ځایه وټاکی
اسلامی قوانین
ناداره ـ فقیر
فابریکې

۳

او هغه په دې ځای کې ولیکی

د کلمو
او معناوو د پېژنې
تمرین

د (۱) چوکاټ د کلمو ضد له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کی ولیکی

۲	۱
له دی ځایه وټاکی	د دغو کلمو ضد
کمونستی حکومت	اسلامی حکومت
دښمنان	دوستان
ګډودی ، بی نظمی	نظم (ترتیب)

۳

او هغه په دی ځای کی ولیکی

د کلمو او معناوو دپېژندنی تمرین

د (۱) چوکاټ د جملو مترادف (۲) چوکاټ څخه وټاکئ او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکئ

۲	۱
له دې ځایه وټاکئ	د دغو جملو مترادف
مؤمنین د نورو حقوقو محترم گڼي.	مسلمانان د ټولو حقوقو درناوی کوي.
اسلامي دولت له فقیرانو سره همدردي کوي.	اسلامي حکومت له بې وزلو سره مرسته کوي.
اسلامي دولت د خلکو آرامۍ لپاره زیار باسي	اسلامي حکومت د خلکو د هوساینې لپاره کار کوي

۳

او هغه په دې ځای کې ولیکئ

د مقصد بیانولو
له طریقې سره آشنا کیدلو
تمرین

د (۱) چوکاټ د جملو ضد له (۲) چوکاټ څخه وټاکئ او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکئ

۱

د دغو جملو ضد
اسلامي حکومت د خلکو اولاد سم روزي
اسلامي حکومت د شریعت حکم په خلکو جاري کوي
ټول خلک د اسلامي حکومت ملاتړ کوي

۲

له دې ځایه وټاکئ
کمونستي حکومت د خلکو اولادونه بې لارې کوي
کمونستي حکومت د شریعت په خلاف کار کوي.
ټول خلک د کمونستي حکومت په ضد دي.

۳

او هغه په دې ځای کې ولیکئ

د مقصد بیانول

له طریقې سره آشنا کیدل

تمرین

دوولسم لوست

اسلامي حجاب

دیوي مسلماني

ښځي لپاره اسلامی

حجاب فرض دی .

مسلمانه ښځه له کوره

بهر باید بې حجابه ونه ګرځي .

حجاب د مسلماني ښځې زینت دی .

خدای (ج) په قرآن کریم کې فرمایلي دي :

ای پیغمبر ص ، ! مؤمنو ښځوته ووایه چې خپلې سترګې

ونغاړی (د شهوت په توګه دې نارینه وُته و نه ګوری) مستور

ځایونه دې پټ کړی ، مګر هغه ځای چې ښکاره دی یعنی

(پټول ئې مشکل کاردی) یعنی مخ اولاس . او خپل ټکرِدی

پرخپله غاړی واچوی ترخو سینه اوغاړه ئې ښکاره نشی .

خپل ګانه او سینګاردی ښکاره نکړی مګر د خپلو میړونو یا خپلو

پلرونو یا د خپلو میړونو پلرونوته (یعنی خسرته) یا د خسر زامنوته

یا د میره زامنوته یعنی د بلې ښځې زوی ته یا خپلو ورونوته

یا د ورونو زامنوته یعنی وریرونوته یا د خور زامنوته یا کنیزانو

او یا ښځوته او یا هغو ماشومانو غلامانوته چې د شهوت خاوندان

نه وی یا هغه خلک او ماشومان چې د ښځو په حال احوال نه پوهیږی .

شعر

اسلامی حجاب و ښځو ته لوی پت دی

د دوی کور د دوی کهول لره عزت دی

له بربنډو، او مخ لوڅو، ښکو چه گردو

او دا هسی رسوا دو دنه می نفرت دی

چه ئې مخ لوڅ، پښې بربنډې، سر ئې لوڅ وي

پر داسې زنانه ؤ ستر لعنت دی

په خندا، ګډا چه ګرځي په کوڅو کې

د ګناه پېټی ئې دروند په آخرت کې

د غربي او پردو ښځو تقليد پرېږده

ځکه تا کې اسلامي لوړ شهامت دی

ته په خیلو اسلامی جامو ښه ښکاری

او هم تا لره په دی کې ستر زینت دی

راځه ومنه زما خبری لنډی

که په تا کی افغانی لږ څو غیرت دی

٤٠٤

کلمې	معناوي
حجاب	پرده
زینت	ښکلا
کنیزې	منځې
مستور	پټ

د دغو جملو تشو ځايونو لپاره ئې

د یوی مسلمانه ښځې لپاره .... فرض دی.
.... بايد له کورنه بهر بې حجابه ونه ګرځي .
حجاب د مسلمانې ښځې لپاره .... دی .
نامسلمانه ښځه حجاب ته .... نه ورکوي .
د حجاب مراعات کول .... لري .

له دغو کلمو څخه وټاکئ

ارزښت
مسلمانه ښځه
زينت
عذاب
حجاب

د معناوو پېژندلو

تمرين

په دغو نيمګړو جملو سره

مثال:

په دفاع نه ارزي	کمونستي باطله عقيده	
حجاب فرض دی .	ديوې مسلمانې ښځې لپاره	
ونه ګڼئ .	مسلمانه ښځه بايد بې حجابه	
لپاره ښکلا ده .	حجاب د مسلمانې ښځې	

دلته بشپړه جمله جوړه کړی

کمونستي باطله عقيده په دفاع نه ارزي

د سم بيانولو د پوهيدنې

تمرين

د درس د مقصد له مخې د هر سوال لپاره یو ځواب وټاکئ

سوالونه	ځوابونه
۱- حجاب د مسلمانې ښځې لپاره څه شی دی؟	۱- فرض / سنت / هیڅ
۲- مسلمانه ښځه باید په کوم ځای کې بې حجابه ونه ګرځي؟	۲- له کوره بهر / په کور کې / په حویلۍ کې
۳- خدای مسلمانې ښځې په څه شي مکلف کړې ده؟	۳- اسلامي حجاب / بې حجابي / بې عفتي
۴- مسلمانه ښځه چې اسلامي حجاب مراعات نکړي د خلکو په نظر څرنګه ښکاري.	۴- ډېره ښه / ښه / بې پروا

د درس

د مقصد د پوهېدنې

تمرین

د (۱) چوکاټ د کلمو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکی

۱

د دغو کلمو مترادف
مسلمانه ښځه
ښکاره
مستور
کنیزان

۲

له دې ځایه وټاکی
مؤمنه ښځه
معلومداره
پټ
غلامان ، خدمتګاران

۳

او هغه په دې ځای کې ولیکی

د کلمو

او معنا وو د پیژندنی

تمرین

د (۱) چوکاټ د کلمو ضد له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکی

۱

دد غو کلمو ضد
حجاب
ښکاره
ښه
جائز

۲

له دې ځایه وټاکی
بې حجابي
پټ
بد ، ناوړه
ناجایز

۳

او هغه په دې ځای کې ولیکی

د کلمو او معناو د پېژندنې تمرین

د (۱) چوکاټ د جملو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکی

۲
له دې ځایه وټاکی
اسلامي حجاب د مؤمنې ښځې لپاره حتمي او ضروري دی
مسلمانه ښځه باید حجاب مراعات کړي.
حجاب د مسلماني ښځې زینت دی

۱
د دغو جملو مترادف
اسلامي حجاب د مسلماني ښځې لپاره فرض دی.
مسلمانه ښځه باید بې حجابه ونه گرځي.
حجاب د مسلماني ښځې لپاره ښکلا ده

۳
او هغه په دې ځای کې ولیکی

د مقصد بیانولو
له طریقې سره د آشنا کیدلو
تمرین

د (۱) چوکاټ د جملو ضد له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکی

۱

د دغو جملو ضد
مسلمانې ښځې د اسلامي حجاب مراعات کوي.
د اسلامي حجاب مراعات کول ثواب لري.
اسلامي حجاب ښځه د احترام وړ ګرځوي.

۲

له دې ځایه وټاکی
غیر مسلمانې ښځې بې حجابې ګرځي.
بې حجابي ګناه ده.
بې حجابي د ښځې احترام کموي.

۳

او هغه په دې ځای کې ولیکی

د مقصد بیانولو
له طریقې سره د آشنا کیدلو
تمرین

خیانت

خیانت د اسلام
په سپیڅلي دین کې لوی
جرم دی .
پیغمبر صلی الله علیه وسلم
فرمایلي دي :
دقیامت په ورځ کی د هرخاین لپاره یو بیرغ دی چې د هغه
لوی والی به د ده د خیانت په اندازه وي .

خیانت ډیر ډولونه لري. لکه : جهاد ته خیانت ، هیواد ته

خیانت ، خلکو ته خیانت ، د کوندې او یتیم مال ته خیانت

له دښمن نه په نیول شوي غنیمت کی خیانت او داسی نور.

مجاهدین هیڅ وخت په جهاد کې خیانت نکوي،

مجاهدین د غنیمت مال نه غلا کوي هغه د امانت په توګه

ساتی او هغه د لویانو د فیصلې له مخې په عادلانه ډول ویشي

چې دا کار له یوې خوا ډیر اجر او ثواب لري او له بلې خوا د مجاهدینو

په منځ کې د کینې او دښمنۍ نه مخ نیوی کوي .

نوې کلمې :

کلمې :	جرم	خاین	فیصله
معناوې :	ګناه	خیانت کوونکی	پریکړه

د دغو جملو د تشو ځایونو لپاره ئی

خیانت په اسلام کې لوی .... لري .

خیانت ډېر .... لري .

مجاهدین هیڅ وخت په جهاد کی ..... نکوي

مجاهدین د .... نه غلا کوي .

غنیمت مال باید .... وویشل شي .

له دغو کلمو څخه وټاکی

خیانت
عادلانه
غنیمت مال
دولت
جرم

د معنا وو د پېژندلو

تمرین

پهٔ دغونیمګړو جملو سره

مثال: پهٔ دفاع نهٔ ارزی کمونستی باطله عقیده

لوی جرم دی . خیانت پهٔ اسلام کې
خیانت نهٔ کوی . مجاهدین پهٔ جهاد کې
عادلانه وویشل شی . دغنیمت مال باید

دلته بشپړه جمله جوړه کړی
کمونستی باطله عقیده پهٔ دفاع نهٔ ارزی

تمرین
دسم بیانولو د پوهیدنې

د درس د مقصد له مخې د هر سوال لپاره یو ځواب و ټاکئ

سوالونه	ځوابونه
۱- خیانت په اسلام کې څه شی دی؟	۱- جرم / مکافات / هیڅ
۲- مجاهدین په جهاد کې څه نکوي؟	۲- خیانت / توکي / خوب
۳- د غنیمت د عادلانه ویشل د څه شي له منځ ته راتلو نه مخنیوی کوي؟	۳- اتحاد / کینه او نفاق / جګړه
۴- مجاهدین د غنیمت نیول شوي شیان څرنګه کوي؟	۴- ویشي یې / خرڅوي یې / له منځه یې وړي

د درس
د مقصد د پوهېدنې
تمرین

د (۱) چوکاټ د کلمو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکې

۲	۱
له دې ځایه وټاکی	د دغو کلمو مترادف
آخرت ، محشر	قیامت
ستر ، غټ	لوی
د سعادت او نیکمرغۍ لار	اسلام

۳

اوهغه په دې ځای کې ولیکی

دکلمو
او معناوو پېژندنی
تمرین

(۱) چوکات دکلمو ضد له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کی ولیکی

۱

د دغو کلمو ضد
خاین
مسلمان
لوی

۲

له دی ځایه وټاکی
صادق ، راستکاره
کافر او ملحد
کوچنی وړو

۳

او هغه په دی ځای کی ولیکی

دکلمو
او معناوو دپیژندنی
تمرین

د (۱) چوکاټ د جملو مترادف (۲) چوکاټ خپه وتاکی او هغه په (۳) چوکاټ کی ولیکی

۱
د دغو جملو مترادف
خیانت د اسلام په سپیڅلی دین کې یو لوی جرم دی
مجاهدین په جهاد کې خیانت نکوی.
مجاهدین غنیمت مال نه خرڅوی.

۲
له دی ځایه وتاکی
خیانت په اسلام کی ستر عذاب لری
مجاهدین په جهاد کی په صداقت سره کار کوی.
مجاهدین غنیمت بی ځایه نه مصرفوی..

۳
او هغه په دی ځای کې ولیکی

د مقصد بیانولو
له طریقی سره د آشناکیدلو
تمرین

د (۱) چوکاټ د مجاهدینو ضد له (۲) چوکاټ څخه وتلای او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکئ

۱	۲
د دغو مجاهدینو ضد	له دې ځایه وتلای
مجاهدین خپلو خلکو ته خدمت کوي.	کمونستان خپلو خلکو ته خیانت کوي
ربښتینولی او صداقت اجر او ثواب لري.	خیانت کول ګناه لري .
مجاهدین د هیواد د آبادولو په فکر کې دي.	کمونستان د هیواد د ورانولو په فکر کې دي
مجاهدین صادق او راست کاره دي .	کمونستان خاینان دي .

۳

اوهغه په دې ځای کې ولیکئ

دمقصد بیانولو
له طریقې سره د آشنا کیدلو
تمرین

شوارلسم الوست

دمؤمن قتل

دیوه مسلمان او

مؤمن قتل له د یرو لویو

گناهانو څخه دی .

خدای ج . په قرآن عظیم الشان کې فرمایلي دي :

څوک چې یو مسلمان قصداً ووژني نو جزائی دوزخ دی . تل

به په دوزخ کې وي او غضب کوي خدای ج . پر هغه باندی او

لعنت کوي پر هغه او د هغه لپاره تیار وي لوی عذاب .

څوک چې د یوه مسلمان په وژنه کې له قاتل سره مرسته وکړي

د قتل په ګناه کې شریک کیږي .

پیغمبر "ص" فرمایلي دي :

څوک چې د یوه مسلمان په وژنه کې د نیمې کلمې په اندازه

له قاتل سره مرسته وکړي د قیامت په ورځ به مخامخ

کیږي له خدای "ج" سره په داسې حال کې چې پر تنندي

لیکلي وي : " د خدای "ج" له رحمت نه نا امید دی . " یعني له قاتل

سره د نیمې[1] کلمې په اندازه مرسته وکړي او هغه قتل ته تشویق

کړي د خدای "ج" له رحمت نه نا امید دی .

(۱) عالمانو د نیمې کلمې مثال داسې ورکړی دی : د مثال په ډول د (ووژنه) د کلمې په ځای (ووژ) وایي .

کلمي	معناوی
قصداً	لاسی
رحمت	مهربان
نااميد	مایوس
تشویق	هشمول

د دغو جملو د تشو ځایونو لپاره ئې

دیو مسلمان وژنه .... ده .
څوک چې یو مسلمان .... وژني جزا ئې دوزخ دی.
قاتل سره د خدای (ج) له .... ناامید دی.
خدای (ج) پر قاتل باندې .... کوي .
څوک چې دیو مسلمان په قتل کې له قاتل سره
لږ مرسته وکړي په قتل کې .... دی .

له دغو کلمو څخه وټاکئ

لاسی
رحمت نه
لویه ګناه
شریک
لعنت

د معناوو د پیژندلو
تمرین

په دغونیمګړو جملو سره

مثال: په دفاع نه ارزي کمونستي باطله عقیده

ګناه ده . دیو مسلمان وژنه لویه
ناامید دی . قاتل دخدای (ج) له رحمته
لعنت کوي . خدای (ج) پر قاتل

دلته بشپړه جمله جوړه کړی

کمونستي باطله عقیده په دفاع نه ارزي

تمرین

دسم بیانولو پوهیدنی

د درس د مقصد له مخې د هر سوال لپاره یو ځواب وټاکئ

سوالونه	ځوابونه
۱- د قاتل جزا څه ده ؟	۱- دوزخ / جنت / هیڅ
۲- قاتل د آخرت په ورځ د چا له رحمت نه ناامید دی ؟	۲- خدای (ج) / حضرت محمد (ص) / هیڅ چا
۳- له قاتل سره مرسته کول څرنگه عمل دی ؟	۳- جرم / ثواب / بد عمل
۴- خدای (ج) په قاتل باندې څه شی نازلوي ؟	۴- غضب / مهرباني / دواړه

د درس
د مقصد د پوهیدنې
تمرین

د (۱) چوکاټ د کلمو ترادف له (۲) چوکاټ څخه وټاکئ او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکئ

۱

د دغو کلمو ترادف
دوزخ
غضب
قیامت

۲

له دې ځایه وټاکئ
جهنم
قهر
د آخرت ورځ

۳

او هغه په دې ځای کې ولیکئ

د کلمو
او معناوو د پېژندنې
تمرین

د (۱) چوکاټ د کلمو ضد له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکی

۱

د دغو کلمو ضد
قاتل
مؤمن
رحمت

۲

له دی ځایه وټاکی
مقتول
کافر ، ملحد
لعنت ، قهر او غضب

۳

او هغه په دی ځای کی ولیکي

د کلمو
او معناوو د پیژندنی
تمرین

د (۱) چوکاټ د جملو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وتنا کی او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکې

۱

د دغو جملو مترادف
د مسلمان وژنه لویه ګناه ده .
قاتل د خدای (ج) له رحمت نه ناامیدی دی.
خدای (ج) پر قاتل باندی لعنت کوی

۲

له دی ځایه وتنا کی
د مؤمن وژنه ډیره ستره ګناه ده .
قاتل د خدای (ج) له مهربانی نه محرومی دی.
خدای (ج) پر سړی وژونکی غضب کوی

۳

او هغه په دی ځای کې ولیکې

د مقصد بیانولو
له طریقی سره آشنا کیدلو
تمرین

د (۱) چوکاټ د جملو ضد له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکی

۲

له دې ځایه وټاکی
د کمونستانو د دښمن وژنه د ثواب کار دی.
کمونستان یو بل سره وژنی
مقتول د خدای ج. له رحمته نا امید نه وی.

۱

د دغو جملو ضد
دیوه مؤمن وژنه ستره ګناه ده
مسلمانان یو بل سره نه وژنی
قاتل د خدای ج. له رحمته نا امید دی.

۳

او هغه په دې ځای کې ولیکی

د مقصد بیانولو
له طریقی سره د آشنا کیدلو
تمرین

پنځه لسم لوست

اسلام مسلمانانو ته ښه اخلاق زده کوي

حضرت محمد «ص»

فرمایلي دي :

خدای «ج» د قیامت په ورځ

له دریو کسانو سره په مهرباني خبرې نه کوي :

لومړی زوړ زنا کاره ، دوهم درواغجن پادشاه ، دریم کبرجن سوالگر.

حضرت محمد «ص» په بل ځای کې فرمائی : « د هغه چا

په زړه کې چې یوه زره خیری وی ، جنت ته نه داخلیږی . »

یو سړی پوښتنه وکړه : چې انسان عادتاً غواړی جامې خوښوی

نو حال به یې څنګه وی ؟

حضرت مُحَمَّد «ص» وفرمایل : « خدای «ج» جمال

لری او ښکلا خوښوی خو کبر د ځان لوړ ګڼل او د نورو حقیر

شمیرل دی .

دری شیان د مسلمانانو د ژغورنې سبب ګرځی :

له کبر او بدکاری نه پرهیز کول ، په هر حال کې حق بیانول ، په

دارندګی او ناداری کې صرفه جوئی .

دری شیان د سړی د هلاکت سبب ګرځی .

نفساني خواهشاتو ته تسليميدل ، بخل او حسد ، كبر او

ځان ستايل .

اې مسلمانانو ! له كبرنه ليرې ګرځى ، له بدو كارونو نه او د ارشى ،

له ظلم نه پرهيز وكړى چې پاى يې بد مرغى ده .

نوى كلمې :

معناوى	كلمې
بې قدره ، كوچنى	حقير
چيرك	خيرى
له منځه تلل	هلاكت

د دغو جملو د تشو ځایونو لپاره يُ

خدای ج .... لري .

کبر .... او د خلکو حقیر شمیرل دي .

له .... څخه پرهیزګاري د مسلمانانو د ډېر غور سبب ګرځي .

خدای ج .... سره نه خوښوي .

کبر او .... ځان ستایل د مسلمان

د .... ګرځي .

له دغو کلمو څخه وټاکی

بدکاري او کبر
جمال
هلاکت سبب
مغرور او متکبر
ځانان او ګنل

د معناو د پیژندلو

تمرین

په دغو نیمګړو جملو سره

مثال:

په دفاع نه ارزي	کمونستي باطله عقیده
ن کت ګرځي دانسا د هلا سبب .	نی نفسا خواهشاتوته تسلیمیدل
ګرځي هلاکت سبب .	بخل او حسد دانسان د
هلاکوي تیټ ګڼل سړي .	ځان لوړ او نور خلک

دلته بشپړه جمله جوړه کړی

کمونستي باطله عقیده په دفاع نه ارزي

د سم بیانولو پوهیدنې

تمرین

د درس د مقصد له مخې د هر سوال لپاره یو ځواب وټاکی

سوالونه	ځوابونه
۱- د نورو حقیر او بې قدره ګڼل څه شی دی؟	۱- کبر او غرور / عزت / ثواب
۲- ولی کمونستان ځان لوړ او نور بې قدره ګڼی؟	۲- مغرور او متکبر دی / جاهل او ناپوهه دی / دواړه سم دی
۳- د کبر او غرور پای څه شی دی؟	۳- هلاکت / سرخوږی / غم
۴- نفسانی خواهشاتو ته تسلیمیدل څه نتیجه لری؟	۴- هلاکت او بربادی / پیسه داره کیدل / هیڅ

د درس
د مقصد د پوهیدنی
تمرین

د (۱) چوکاټ د کلمو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وباسئ او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکئ

۱

د دغو کلمو مترادف
هلاکت
کبر او غرور
ښکلا

۲

له دې ځایه وباسئ
تباهي ، له منځه تلل
ځان لوړ او نور بې قدره ګڼل
ښایست ، حسن

۳

او هغه په دې ځای کې ولیکئ

د کلمو او معنا و د پېژندنې تمرین

د ۱ چوکاټ د کلمو ضد له ۲ چوکاټ څخه وټاکئ او هغه په ۳ چوکاټ کې ولیکئ

۱

دد غو کلمو ضد
ظالم
ظلم
بدکاري

۲

له دې ځایه وټاکئ
مظلوم
عدل ، انصاف
نیکوکاري ، تقوی ، پرهیزګاري

۳

او هغه په دې ځای کې ولیکئ

د کلمو او معناوو د پېژندنې تمرین

د (۱) چوکاټ د جملو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وتاکی او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکی

۱

د دغو جملو مترادف
خدای (ج) پرهیزګاران خوښوی
داسلام دین کبر او غرور منع کړی دی
مسلمان باید د خپل نفس تابع نشی

۲

له دی ځایه وټاکی
خدای (ج) له پرهیزګارانو څخه راضی دی.
کبر او غرور د اسلام په دین کی ناروا دی.
مؤمن باید نفسانی خواهش ته تسلیم نشی.

۳

او هغه په دی ځای کې ولیکی

د مقصد بیانولو
له طریقې سره آشنا کیدلو
تمرین

د (۱) چوکاټ د جملو ضد له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکی

۱

د دغو جملو ضد
کمونست د نورو د نعمت زوال غواړی.
کمونست تنګ نظر او خود بین دی.
کمونست تل دروغ وائي.
کمونستی بد کاری ته رواج ورکوی.

۲

له دی ځایه وټاکی
مسلمان له خدای څخه د نعمت او برکت غوښتنه کوی.
مسلمان د ځان او نورو لپاره خیر غواړی.
مسلمان اجازه نلری چې دروغ ووائي.
اسلام پرهیزګاری ته رواج ورکوی.

۳

او هغه په دی ځای کې ولیکی

د مقصد بیانولو
له طریقې سره د آشنا کیدلو
تمرین

شپاسم لوست

نظافت د ایمان یوه برخه دی

شریف یو زوی لری،
زوی ئې حمید نومیږی
او ځوور ځی کیږی چې په روغتون کې
بستر دی. کله چې شریف د حمید د لیدلو لپاره شفاخانې ته
ولاړ، وئې لیدل چې حمید د بستر پر مخ لوېدلی دی،
په هغه خراب حال د خپل زوی له لیدو نه ډیر خپه شو او

له سترګونه ئې اوښکې وبهېدلې ، فکر ئې وکړ چې ډاکټر ته

ورشي تر څو د حميد په هکله ترې پوښتنه وکړي . د ډاکټر

د خونې خواته روان شو او دروازه ئې و ټکوله . ډاکټر د خونې

له منځه ږغ وکړ مهرباني وکړی ؛

شريف خپلې اوښکې پاکې کړې د ډاکټر کوټې ته ننوت او سلام ئې

ورکړ ، ډاکټر د شريف د سلام ځواب ورکړ او وئې ويل :

مهرباني وکړی پر څوکۍ کښېنی . شريف ډاکټر ته نږدې

کښېناست او پوښتنه ئې وکړه : ډاکټر صاحب زما زوی

حميد څنګه دی ؟

ډاکټر وويل : پريشانه مه اوسی زوی مو ان شاء الله ښه

کيږي .

ډاکټرلږ فکر وکړ او وئې ویل : خدای ج. ربّ العالمین

دی یعنې د عالمونو پروردګار دی . په دغه دنیا کې مونږ

تاسې یواځې هغه شیان وینو چې په سترګو لیدل کیږی لکه

سړی ، څاروی ، حشرات ، الوتونکی ، وابنه اونور شیان

له دی شیانو پرته ډیر واړه اوکوچنی نور شیان هم شته دی

چې مونږ هغه په سترګو نه شو لیدلای چې د ډاکټرانو په اصطلاح

هغوته میکروب وائی . که چیری دغه میکروبونه زمونږ بدن ته

داخل شی مونږ ناروغه کوی . ستاسو زوی هم د همدغو

میکروبونو له امله ناروغ شوی دی . خواوس د حمید جان

ناروغی پیژندل شوی او مناسبه دوا درمل ورکړل شوی دی

چې ډیر ژر به ان شاءالله ښه شی .

داکتر خپلو خبرو ته دوام ورکړ او ویې ویل : شریف خانه !

باید ووایم چې دغه میکروبونه په تولو ځایونو کې بنسته، زمونږ

په لاسونو کې ، زمونږ په کالیو کې ، زمونږ په خوړو کې ، په اوبو

په هوا او نور داسې په هر شي کې . د دې لپاره چې مونږ او زمونږ

اولادونه په دغو ناروغیو اخته نشو باید په خپل ورځني ژوند کې

دغه تول شیان مراعات کړو :

۱ - د هر شي له خوړلو نه مخکې باید خپل لاسونه په صابون

پریمنځو .

۲ - د دو دې خوړلو لوښي باید پاک پریمنځل شي .

۳ - میوې او سبزیجات باید له خوړلو نه مخکې پاک پریمنځل شي .

۴ - بادام ، جلغوزي او پسته خاوري اوګرد لري باید

په غاښونو پوچ نشي ځکه زمونږ غاښونه هم خرابوي .

۵ ـ شور نخود ، پکاوري ، کچالو او د بازار د مخې نور خواړه چې خاوري ، گرد او میچان پرې کښیني ، باید ونه خوړل شي .

۶ ـ که چیرې څوک زیزش او ذکام ولري باید نور وته نږدې نشي ځکه ریزش او ذکام ساري ناروغي ده .

۷ ـ د څکلو اوبه باید پاکې وي .

۸ ـ گیلاس ، پیاله او قاشقه چې یو نفر له هغه کار اخیستی وي باید په صابون پریمنځل شي او بیا دې بل نفر له هغه نه گټه واخلي .

۹ ـ د هرچا د ځان وچولو او مخ وچولو د ستمالونه دې باید جلا وي .

۱۰ ـ کوټو دروازو او کړکیوته باید جالي ونیول شي چې

مېچان او ماشي ور ننوځي .

۱۱ - برستنو او دوشکو ته باید لمر ورکړشي او بنسه پر یمنځل شي .

۱۲ - د څاه ګانو اوبه ، دچینو اوبه او د هغو ځایونو اوبه چې د خلکو د اوبو څکلو لپاره تري ګټه اخیستل کیږي باید پاک وساتل شي کېچیرې په پاکوالي ئې یقین ونه لرو ، اوبه ئې باید وایښوو .

۱۳ - په هماغه اندازه چي دکور منځ او دحویلي انګړ پاک ساتو ، باید دخپل کور د باندي ځای هم پاک وساتو .

حضرت محمد.ص. فرمايلي دي : « نظافت او پاکی د ايمان

يوه برخه ده . »

د دغو جملو د تشو ځايونو لپاره ئې

میوې او سبزیجات باید .... وخوړل شي.

د هر شي له خوړلو نه مخکې باید .... پریمنځو

.... باید پاکې وي .

باید د کوټو کړکیو ته .... ونیول شي .

که چیرې ریزش ولرو باید .... نشو .

له دغو کلمو څخه وټاکئ

- لاسونه
- د څښلو اوبه
- جالۍ
- چاته نژدې
- پاک

د معناوو د پېژندلو تمرین

په دغو نیمګړو جملو سره

مثال:

په دفاع نه ارزي	کمونستي باطله عقیده
نه وي باید ونه خوړل شي	د بازار دمخې خواړه پاک
نه څوتنه استفاده ونکړي	په یوه وخت کې باید له یوه ګیلاس
مخونه پاک نکړي.	په یوه روی پاک باید څو تنه

دلته بشپړه جمله جوړه کړئ

کمونستي باطله عقیده په دفاع نه ارزي

د سم بیانولو د پوهیدنې

تمرین

د درس د مقصد له مخې د هر سوال لپاره یو ځواب وټاکئ

سوالونه

۱- کوم شی حمید ناروغ کړی و ؟
۲- حمید په کوم ځای کې بستر و ؟
۳- داکتر د حمید پلار ته څه وویل ؟
۴- آیا ضرور دي چې د خپلې خولې دباندې ځای هم پاک وساتو ؟

ځوابونه

۱- د محرقې میکروب / د هوا ګرمي / هیڅ شی

۲- شفاخانه کې / هوټل کې / کور کې

۳- حمید ښه کیږي / حمید نه ښه کیږي / معلوم نه دی

۴- هو ضرور دی / ضرور نه دی / باید پاک و نه ساتو

د درس
د مقصد د پوهیدنې
تمرین

(۱) چوکاټ د کلمو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکی

۱

دد غو کلمو مترادف
ناروغ
نظافت
صحت
کوچنی

۲

له دی ځایه وټاکی
ناجور ، مریض
پاکی ، ستره گی
روغتیا ، سلامتیا
وور ، وړوکی

۳

او هغه په دی ځای کې ولیکی

د کلمو
او معناوو د پیژندنې
تمرین

د (۱) چوکاټ د کلمو ضد له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکی

۱

د دغو کلمو ضد
پاک
ګټه
مناسبه دوا

۲

له دې ځایه وټاکی
ناپاک ، چټل
ضرر ، نقص
نامناسبه دوا

۳

او هغه په دې ځای کې ولیکی

د کلمو
او معنا وو دپېژندنې
تمرین

د (۱) چوکاټ د جملو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کی ولیکی

۲	۱
له دی ځایه وټاکی	ددغو جملو مترادف
پاکی او ستره‌ګی د سړی د سلامتی سبب ګرځي.	نظافت او پاکی زموږ روغتیا ساتی .
څوک چي پاکی او نظافت مراعات نکړي ناروغ کیږي	بی نظافتی سړی ناجوړه کوی.
هغه اوبه چي څښل کیږي باید پاکی وي.	د څکلو اوبه باید پاکی وی .

۳

او هغه یې دی ځای کي ولیکی

د مقصد بیانولو

له طریقی سره د آشنا کیدلو

تمرین

د (۱) څوکات د جملو ضد له (۲) څوکات څخه وټاکي او هغه په (۳) څوکات کې ولیکي

۱

د دغو جملو ضد
نظافت او پاکي زموږ د روغتیا سبب ګرځي
د هر چا د مخ وچولو او ځان وچولو دستمالونه باید بیل وي
ځیني کوچني ژوندي موجودات ګټور دي

۲

له دې ځایه وټاکي
بې نظافتي مونږ ناروغه کوي.
د ټولو د مخ دستمال باید بیل وي.
ځیني کوچني موجودات ضرر رسوي.

۳

او هغه په دې ځای کې ولیکي

د مقصد بیانولو
له طریقې سره د آشنا کیدلو
تمرین

اووه لسم لوست

هیواد بیا جوړونې ته ضرورت لري

په تیرو زمانو کې
انگریزانو څو ځلې زموږ
پر اسلامي هیواد تیری وکړ
او زموږ په زرگونو تنه کوچنیان ، ښځې ، زاړه او ځوانان ئې
وژل ، کورونو ، جوماتونو او مدرسې ئې وراني کړې .
کرنه او مالداري ئې له منځه یوړه . خو زموږ د هیواد زړه ورو مجاهدینو

د هغوی په وړاندی مقاومت وکړ او هغوی ئې په ذلت او خواری

سره له خپل هیواد نه وشړل او بیا ئې خپل هیواد ودان کړ.

کمونستانو او روسانو هم په تیرو لسو کلونو کې لکه انگریزان

زمونږ پر هیواد تیری وکړ، زمونږ یو ملیون هیواد وال ئې

ووژل او اووه ملیونه نور ئې په هیواد کې د ننه او له هیواد نه

بهر مهاجر کړل، ښارونه، کلی، جوماتونه، مدرسی او

زیارتونه د روسی طیارو د بمباریو او د توپونو او تانکونو گولیو

له امله وران شول، ځنگلونه وسوځیدل او ویالی، کاریزونه

باغونه، زراعتی ځمکی او سرکونه وران شول.

زراعتی پیداوار لکه: غنم، جوار، سبزیجات او میوې

په هیواد کې لږ شول او حیوانی پیداوار لکه: شیدی، مستې

کوچ ، پنیر ، قیماق ، وړی ، د غوائی پوستکی او د قره قل

پوستکی له هیواد نه وړک شول د هیواد صنعت لکه غالی اوبډل

تغراوبدل او داسی نور له منځه لاړل .

تجارت بی رونقه شو ، د ښوونې او روزنې اهداف بدل ، عمل کمزوری

د خلکو روغتیا خرابه او ژوند ونډ دی سنعت او کمکیچن شو .

اوس چې روسان او دهغوی غلامان زمونږ د زړورو

مجاهدینو په میرانې ماتی خوړلې ، او شرمیدل زمونږ له هیواد

نه ووتل ، باید د هیواد ټول کارونه بیا جوړشی یعنی هیواد باید

له سره ودان شی .

د دې هیواد مجاهدو او مسلمانو خلکو د همت ملا تړلی ده

او نن ټولو د مخه د خپل هیواد افغانستان کرنه او مالداری

له سره جوړ وي ترڅو مناسب خواره د ځان او خپلو کورنیو

لپاره لاس ته راوړي چې روغتیا او سلامتیا ئې وساتل شي .

زمونږ مسلمان مجاهدین له دې نه وروسته خپل هیواد ودان

او خپل خلک ماړه ساتي ترڅو ئې د هیواد والو لاسونه د یوې

مړۍ د ودې لپاره هیڅ پردي ته اوږده نشي .

نوي کلمې

کلمې	معناوې
ذلت	شرمنده گي
مقاومت وکړ	وجنگیدل ، مبارزه ئې وکړه
پیداوار	حاصلات
بې رونقه	بې خونده

د دغو جملو د تشو ځایونو لپاره یې

ل ی
زمونږ خلکو څو ځله ...... لخپلی خاورڅخه وشړ .

سا غل
درونو دیر لاامله ټول کورونه .... شول .

نو نږ
کمونستا زمو خلک بی کوره او .... کړل .

اوس مجاهدین هیواد .... جوړوی .

نو نو ن تی
روسا او غلاما ئ د .... دایما په زورما وخوړه

له دغو کلمو څخه وټاکی

- وران
- مهاجر
- مجاهدینو
- انګریزان
- له سره

ند
د معنا وو د پیژلو

تمرین

په دغو نیمګړو جملو سره

مثال:

په دفاع نه ارزي	کمونستي باطله عقیده
جګړه کې ماتې وخوړه.	روسانو له افغانانو سره په
هیواد له سره جوړوي.	زمونږ مجاهدانو مسلمان خلک
خپل هیواد کړنه بیا جوړوي.	زمونږ خلکو له هرڅه لوړي

دلته بشپړه جمله جوړه کړئ

کمونستي باطله عقیده په دفاع نه ارزي

د سم بیانولو د پوهیدنې

تمرین

د درس د مقصد له مخې د هر سوال لپاره یو ځواب وټاکئ

سوالونه	ځوابونه
۱- په تېرو ختونو کې موږ خلکو زموږ په هیواد تیری وکړ؟	۱- انګریزانو / جرمنانو / هندوانو
۲- په تېرو یو ولسو کلونو کې د څه له امله زموږ په ملیونو مسلمانان شهیدان او مهاجر شول؟	۲- د روسانو یرغل / د کولرا مرض / د سیل راتګ
۳- د روسانو د تیري له امله زموږ څو ملیونه هیوادوال مهاجر شول؟	۳- شل ملیونه / اووه ملیون / یو ملیون
۴- زموږ زړورو مجاهدینو د څه شي په زور روسانو ته ماتې ورکړه؟	ایمان او د خدای (ج) تکیه / وسله / پیسې

د درس د مقصد د پوهیدنې تمرین

د (۱) څوکاټ د کلمو مترادف له (۲) څوکاټ څخه وتاکی او هغه په (۳) څوکاټ کی ولیکی

۱
د دغو کلمو مترادف
ذلت
کمونست
هیواد

۲
له دی ځایه وتاکی
خواری ، شرمندگی
مرتد ، ملحد ، کافر
وطن

۳
او هغه په دی ځای کې ولیکی

د کلمو اومعناوو د پیژندنی

تمرین

د (۱) چوکاټ د کلموضد له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کی ولیکی

۱

دد غو کلمو ضد
ورانی
زړور مجاهد
کرنیزې ځمکی

۲

له دی ځایه وټاکی
ودانی ، آبادی
دارن کمونست
شاړې او بې حاصله ځمکی

۳

او هغه په دی ځای کی ولیکی

د کلمو او معنا وو پیژندنی تمرین

د (۱) چوکاټ د جملو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کی ولیکی

۲	۱
له دی ځایه وټاکی	**د دغو جملو مترادف**
انګریزانو زمونږ پر وطن یرغل وکړ.	انګلیسانو زمونږ پر هیواد تیری وکړ.
زمونږ د ښمنانو زمونږ هیواد وران کړ.	روسانو تول شیان وران کړل.
شورویانو او مزدورانوئی زمونږ نیمه	روسانو غلامانو زمونږ یو نیم ملیونه هیوادوال
لکه هیوادوال شهیدان کړل.	شهیدان کړل.

۳

او هغه په دی ځای کي ولیکی

د مقصد بیانولو
له طریقی سره د آشناکیدلو
تمرین

د (۱) چوکاټ د جملو ضد له (۲) چوکاټ څخه وتپاکی او هغه په (۳) چوکاټونو کی ولیکی

۱

ددغو جملو ضد
روسانو زمونږ هیواد ویجاړ کړ.
روسانو ظلم زمونږ خلک هجرت ته مجبور کړل
روسانو سرکونه وران کړل.

۲

له دی ځایه وتپاکی
مجاهدینو خپل هیواد له سره جوړ وی.
مجاهدینو، مهاجرینو په عزت سره خپلو کورونو ته راولی.
مجاهدینو سرکونه بیا جوړ وی.

۳

او هغه په دی ځای کی ولیکی

د مقصد بیانولو
له طریقی سره د آشنا کیدلو
تمرین

اتلسم لوست

دیوی جملی لوستل

دیوی جملی دلوستلو

لپاره دری شیان ضروردی :

لومړی باید توری او آوازونه

وپیژنو .

بل داچې د کلمولـه سـم تلفظ سره آشناشو . د کلمی لـه سـم تلفظ

سره آشناکیدل زمونږ سره مرسته کوی چې یوه جملـه د هغی

د معنی لـه مخې سـمـه ولولو . دریم شی هم دغه د جملی معنی ده .

د مثال په ډول د دغې جملې د لوستلو په وخت کې :

" احمد د غسل کولو په وخت کې لنګ په ځان پوری وتړلو " که د جملې معنی ژر ځان ته معلومه کړو ، ژر د غه شیان په هغه کې وینو :

- غسل کول

- په ځان پوری وتړلو

دغه کلمې او د هغو معناوی زمونږ سره مرسته کوی چې د "لنګ" کلمه په پورتنۍ جمله کې (لُنګ) ولولو نه (لِنګ) او نه لَنګ .

نوی کلمې :

کلمې :	تلفظ	ضرور	لِنګ	لَنګ
معناوی :	دیوه توری برغ یا آواز	حتمی	پښه	ګوډ

د دغو جملو د تشو ځایونو لپاره ئې

د .... له مخې لوستل

د یوې جملې د لوستلو لپاره .... ضروردي .

لومړی باید .... وپیژنو .

بل دا چې له .... سره آشنا شو .

دریم شی .... ده .

له دغو کلمو څخه وټاکی

دری شیان

معنی

د جملې معنی

سم تلفظ

توری او زغونه

د معنی د پیژندلو

تمرین

په دغو نیمګړو جملو سره

مثال:

په دفاع نه ارزي	کمونستي باطله عقیده
مخې جمله ولولو	باید د معنی له
سم تلفظ سره آشنا شو	د کلمو له معنی او
آشنا شو.	د تورو او آوازونو سره

دلته بشپړه جمله جوړه کړی

د سم بیانولو د پوهیدنې

تمرین

د درس د مقصد له مخې د هر سوال لپاره یو ځواب وټاکئ

سوالونه	ځوابونه
۱ـ له خولې څخه د بڼ غږ را ایستلو ته څه وائي ؟	۱ـ تلفظ وائي / کلمه وائي / جمله وائي
۲ـ پرته له کلمو او بڼ غونو نه بل کوم شی د جملې له لوستلو سره مرسته کوی .	۲ـ دجملې معنی / دجملې کلمې / دجملې بڼ غونه
۳ـ دکلمې سم تلفظ او پیژندنه دکوم شی له پیژندنې سره مرسته کوی ؟	۳ـ حرفونه / دجملې معنی / کلمې
۴ـ احمد د غسل کولو په وخت کې کوم شی په ځان پورې وتړلو ؟	۴ـ لَنګ / لِنګ / لُنګ

د درس

د مقصد د پوهیدنې

تمرین

د (۱) چوکاټ د کلمو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکی

۱

د دغو کلمو مترادف
آشنائي
علم راوستل
تلفظ

۲

له دې ځایه وټاکی
پیژندل ، آشناکیدل
څرګندول ، معلومول
له خولې نه د ږغ راایستل

۳

او هغه په دې ځای کې ولیکي

د کلمو او معناوو د پیژندنې تمرین

د (۱) چوکاټ د کلمو ضد له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کی ولیکی

۱
د دغو کلمو ضد
سم لوستل
بامعنی لوستل
آشنا کلمی
پیژندل شوی

۲
له دی ځایه وټاکی
ناسم لوستل
بی معنی لوستل
نه پیژندل شوی ، ناآشنا کلمی
نه پیژندل شوی

۳
او هغه په دی ځای کی ولیکی

د کلمو
او معناوو د پیژندنی
تمرین

د (۱) چوکاټ د جملو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کی ولیکی

۲	۱
له دی ځایه وټاکی	د دغو جملو مترادف
د جملې پر معنی ژر ځان پوه کول.	د جملې معنی ژر معلومول .
د کلمو پیژندنه زمونږ سره د مخې په	د کلمو له سم تلفظ سره آشنا کیدل
پیژندنه کې مرسته کوی.	زمونږ سره په لوستلو کی مرسته کوی ..
د معنی له مخې لوستل	با معنی لوستل .

۳

او هغه په دی ځای کې ولیکی

د مقصد بیانولو
له طریقې سره آشنا کیدلو
تمرین

د (۱) څوکاټ جملو ضد له (۲) څوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) څوکاټ کې ولیکی

۱

د دغو جملو ضد
توری په توری او کلمه په کلمه لوستل سم دی.
د معنی له مخې لوستل سم نه دی
په طوطی واره لوستلو سم لوستلای شو
په لوستلو کی باید په معنی فکر وکړو.

۲

له دی ځایه وټاکی
توری په توری او کلمه په کلمه لوستل سم نه دی
د معنی له مخې لوستل سم دی.
یوازې په طوطی واره لوستلو، لوستونکی نه کیږو
په لوستلو کی باید معنا وو ته فکر ونکړو

طوطی واره = طوطی غوندی

۳

او هغه په دی ځای کې ولیکی

د مقصه بیانولو
له طریقی سره آشنا کیدلو
تمرین

نولسم لوست

کلام یا جمله

هغه شی چی مونږ
خپل مقصد پری بیانوو ،
کلام یا جمله نومیږی . کلام
له کلمو څخه جوړیږی .
کلام پر دوه ډوله دی ، تام کلام
او ناقص کلام .

تام کلام : د مثال په ډول دا جمله : " د افغانستان

خلک مسلمان او باغیرت دی » وگوری په پورتنی جمله کې

دغه کلمې راغلې دی : « دافغانستان ـ خلک ـ مسلمان

او باغیرت ـ دی »

پورتنی جمله بشپړه معنی اورېدونکي ته رسوي او په همدې

سبب هغې ته یو بشپړ یا تام کلام وائي .

د تام کلام بل مثال : « خدای (ج) لوی دی » .

ناقص کلام : د مثال په ډول که ووایو : « دافغانستان

خلک » اورېدونکی پوښتنه کوي چې : « دافغانستان

خلک څنګه دی » او یا پوښتنه کوي چې « دافغانستان

خلکو څه کړی دی ؟ »

څنګه چې دغه جمله تول مقصد اورېدونکي ته نه رسوي

نو لدې امله هغې ته نیمګړی یا ناقص کلام وائي .
د ناقص کلام بل مثال : « احمد په سنګر کې » .

نوې کلمې :

معناوې	کلمې
بشپړه ، پوره	تام
نیمګړی ، کم	ناقص
جمله ، خبره	کلام
علت ، دلیل	سبب
د زړه غوښتنه	مقصد

د دغو جملو د تشو ځايونو لپاره ئي

كلام له كلموڅخه ....

هغه شي چي .... پر هغه بيانوو كلام يا جمله . (نوميږي)

هره جمله چي .... اوريدونكي ته ورسوي

هغه ته بشپړ يا تام كلام وائي .

لكه : خداى ج، لوى دى .

هره جمله چي مقصد .... اوريدونكي ته

ورسوي هغه ته نيمګړي يا ناقص كلام وائي .

لكه : احمد په سنګر كي .

د افغانستان خلك مسلمان او .... دي.

له دغو كلموڅخه وټاكى

- بشپړ مقصد
- نيمګړى
- باغيرت
- جوړيږى
- موږ خپل مقصد

د معنا او د پيژندلو
تمرين

په دغو نیمګړو جملو سره

مثال؛

په دفاع نه ارزي	کمونستي باطله عقیده
کیږي ته ورسوي بشپړ کلام بلل .	نکی هره جمله چي ټول مقصد اوریدو
کیږي ته ورسوي ناقص کلام بلل .	نکی هره جمله چي مقصد نیمګړي اوریدو
نومیږي پري بیانو وکلام یا جمله .	هغه شي چي مونږ خپل مقصد

دلته بشپړه جمله جوړه کړي
کمونستي باطله عقیده په دفاع نه ارزي

د سم بیانولو د پوهیدنې

تمرین

د درس د مقصد له مخې د هر سوال لپاره يو ځواب وټاکئ

سوالونه	ځوابونه
۱- هغه شی چې موږ خپل مقصد پرې بيانوو څه نوميږي؟	۱- کلام يا جمله / کتاب / قلم
۲- کلام له څه شی څخه جوړيږي؟	۲- قلم / کلمه / ژبه
۳- هره جمله چې پوره مقصد اوريدونکي ته ورسوي څه نوميږي؟	۳- ناقص کلام / بشپړ کلام / هيڅ
۴- هره جمله چې مقصد نيمګړی اوريدونکي ته ورسوي څه نوميږي؟	۴- هيڅ / ناقص کلام / بشپړ کلام

د درس
د مقصد د پوهيدلو
تمرين

د (۱) چوکاټ د کلمو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وټاکئ او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکئ

۱

د دغو کلمو مترادف
کلام
مقصد
تام
ناقص

۲

له دې ځایه وټاکئ
جمله ، خبره ، وینا
مطلب ، هدف
بشپړ ، پوره ، تول
نیمګړی ، ناتمام ، نیم کله

۳

او هغه په دې ځای کې ولیکئ

د کلمو او معناو د پېژندنې

تمرین

د (۱) چوکاټ د کلمو ضد له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکی

۲	۱
له دې ځایه وټاکی	د دغو کلمو ضد
نه رسوی	رسوی
کافر	مسلمان
کښېنسته ، لاندې	پورته
پردی ، بیگانه	خپل

۳

او هغه په دې ځای کې ولیکی

د کلمو او معناو د پیژندنې تمرین

د (۱) چوکاټ د جملو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وټاکئ او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکئ

۱

د دغو جملو مترادف
کلام له کلمو څخه جوړیږي .
بشپړه جمله ټوله معنی اوریدونکي ته رسوي.
نیمګړې جمله ټوله معنی اوریدونکي ته نه رسوي.

۲

له دې ځایه وټاکئ
خبره له کلمو څخه جوړیږي .
تام کلام بشپړ مفهوم اوریدونکي ته رسوي.
ناقص کلام بشپړ مفهوم اوریدونکي ته نه رسوي.

۳

او هغه په دې ځای کې ولیکئ

د مقصد بیانولو
له طریقې سره د آشنا کیدلو
تمرین

د (۱) چوکاټ د جملو ضد له (۲) چوکاټ څخه وټاکئ او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکئ

۲	۱
له دې ځایه وټاکئ	د دغو جملو ضد
کمونست بې غیرت دی .	مسلمان باغیرت دی .
له نیمګړې جملې څخه تول مقصد نه پوهیدل کیږي	له بشپړې جملې څخه تول مقصد پوهیدل کیږي
ځینې وخت تول مقصد په څو کلمو کې نه ویل کیږي	ځینې وخت تول مقصد په څو کلمو کې ویل کیږي :
لکه : مجاهدین روسانو ته	لکه : روسانو ماته وخوړه

۳

او هغه په دې ځای کې ولیکئ

د مقصد بیانولو
له طریقې سره د آشنا کیدلو
تمرین

شلم لوست

زمونږ د هیواد اقلیم

څرنګه چې زمونږ
هیواد افغانستان له
بحر څخه لرې دی، نو وچ
اقلیم لري . هغه سیمې چې بحرونو ته نژدې دي ، په اوړي
او ژمي کې هلته ډیر بارانونه اوري . خو په افغانستان کې
بارانونه تل د کال په دوه فصلو کې یعنې پسرلي او ژمي کې وي .

په ژمي کی د غرونو په څوکې واوره ذیرمه کیږی او دغه واوري

په اوړی کې کرار کرار ویلی کیږی اوټول رودونه ، چینی، کاریزونه

او د هیواد ټولی شاه ګانې د همدغه واوره له برکته په اوړی او

ژمي کې له اوبو ډک وی .

واوره د دغه هیواد د ټولو ژوندیو موجوداتو او د دی هیواد

د کرهنی لپاره په حقیقت کې یوه ستره ذیرمه ده .

که چیری د اوبو د ذیرمه کولو لپاره لوی او کوچنی

بندونه او کاریزونه جوړ شی او د ځینو ښتو د خړوبولو

لپاره د هیواد د برق د پریمانه قوی نه په ګټه اخیستلو سره

د اوبو ایستلو لپاره د کرینزو پمپونو څخه کار واخیستل

شی ، کولای شو چه د هیواد شاړی ځمکی هم په کرینزو ځمکو

او د څارویو به څرڅایونو وارووُ .

نوی کلمی :

کلمی	معناوی
بحر	په نړی کی دا بو دیر لویه برخه
فصل	موسم
سیمه	ځای
ذیرمه	ذخیره
خړوبول	اوبه کول
پریمانی	زیاتوالی

د دغو جملو د تشو ځایونو لپاره ئي

دغرونو د پاسه واوري په اوړي کې .... ویلي کیږي.

زموږ د هیواد .... وچ دی.

زموږ هیواد افغانستان له .... لیري دی.

دغرونو واوري د اوبو ستری .... دی

زموږ په هیواد کی په .... کې بارانونه اوري.

له دغو کلمو څخه و تاکئ

دوو فصلونو

ذیرمې

ورو ورو

اقلیم

بحرونه

د معناوو د پیژندلو تمرین

په دغو نیمګړو جملو سره

مثال: په دفاع نه ارزي   کمونستي باطله عقیده

وای بارانونه به هم زیات ولی. که چیري زمونږ هیواد بحر ته نږدې
زیات وي دهغې سیمې هوا هم مرطوب وي. که چیري په یوه سیمه کې داو بو بخار
وي هغه سیمه آباده او سرسبزه. که چیري دیوې سیمې هوا مرطوبه

دلته بشپړه جمله جوړه کړې

کمونستي باطله عقیده په دفاع نه ارزي

تمرین
دسم بیانولو د پوهیدنې

د درس د مقصد له مخې د هر سوال لپاره یو ځواب وټاکئ

سوالونه

۱- که چیرې د بحر د اوبو بخار زمونږ هیوادته زیات رسیدلي، څه به کیدل ؟
۲- هغه سیمې چې بحرته نږدې دي څه ډول اقلیم لري ؟
۳- زمونږ هیواد چې له بحرنه لرې دی څرنګه اقلیم لري ؟
۴- خپلو وچو ښتونه په څه شي اوبه ورکړو ؟

ځوابونه

۱- دیر باران / زلزله / طوفان

۲- مرطوب / وچ / دیر سوړ

۳- وچ / دیر ګرم / دیر سوړ

۴- بندونو، کاریزونو / حوضونو / ویالو

د درس
د مقصد د پوهیدنې
تمرین

د (۱) چوکاټ د کلمو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وټاکئ او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکئ

۱

د دغو کلمو مترادف
دښته
فصل
بحری
سرسبز

۲

له دې ځایه وټاکئ
بې اوبو ځمکه ، شاړه ځمکه
موسم ، وخت
مرطوب ، نم ناک
آباده ، ودانه

۳

او هغه په دې ځای کې ولیکئ

د کلمو
او معناوو پېژندنې
تمرین

(۱) چوکاټ د کلمو ضد لهٔ (۲) چوکاټ څخه وټاکۍ او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکئ

۱

د دغو کلمو ضد
گرم
بې اوبو او وچ
وچ اقلیم

۲

له دې ځایه وټاکۍ
یخ
سرسبز او آباد
مرطوب او بارانی آب او هوا

۳

او هغه په دې ځای کې ولیکئ

د کلمو
او معناوو دې پېژندنې
تمرین

د (۱) چوکاټ د جملو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کی ولیکی

۲	۱
له دی ځایه وټاکی	د دغو جملو مترادف
زمونږ د هیواد اقلیم مرطوب نه دی	د افغانستان آب او هوا وچ ده .
هغه مملکت چې سمندر ته نژدې وی، مرطوب اقلیم لري	هغه هیواد چې بحر ته نژدې دي باراني اقلیم لري.
هر څوک چې د واوره زیاتې وی نو اوبه هم زیاتی وی.	د اوروستر ذخیرې، او به ډېر وی .

۳

او هغه په دی ځای کی ولیکی

د مقصد بیانولو
له طریقې سره د آشنا کیدلو
تمرین

د (۱) څوکا د جملو ضد له (۲) څوکا شخه وتاکی او هغه په (۳) څوکات کی ولیکی

۲ لهٔ دی ځایه وتاکی	۱ د دغو جملو ضد
وچ اقلیم لږ اورښت لری.	بحری اقلیم ډیر اورښت لری.
د بحر د اوبو بخار لږ دی.	د بحر د اوبو بخار زیات وی.
د بحر د اوبو بخار او رښت لږ وی.	د بحر د اوبو بخار او رښت زیات وی.

۳

اوهغه په دی ځای کی ولیکی

د مقصد بیانولو
له طریقی سره د آشنا کیدلو
تمرین

یو ویشتم لوست

کرینز اصلاح شوی تخم

په افغانستان کې
خود وله کرینز اصلاح
شوی تخمونه کرل کیدای شي
چې د کرهنې د مامورینوله خوا
سره سم د خاورې د ډول او د آب او هوا له شرایطو سره سم
باید له دغو تخمونو څخه یو ډ خیل کښت لپاره وټاکو تر څو پریمانه
حاصل لاس ته راوړو .

د مثال په ډول که چیرې په کندز او بغلان یا ځینو نورو ځایونو کې

نااصلاح شوی تخم وکرو، یوجریب ځمکه دیرش منه حاصل

ورکوي، خو که چیرې د هغه په ځای اصلاح شوی تخم وکرو،

یو جریب ځمکه یو سلو پنځوس منه حاصل ورکوي چې د طبني

په پرتله پنځه برابره زیات حاصل دی .

د اصلاح شویو کرینزو تخمونو یو ډول « لارماهو » او

بل ډول ئې « فراهاند » نومیږي . اصلاح شوي تخمونه

نور ډولونه هم لري چې د کرهنې ماموریـن به له هغو څخه

دیو ډول په باکلوکي بزگرانو ته مشوره وکړي .

اصلاح شوي کرینز تخمونه دغه گټې لري :

۱ - دوچکالی او او بولو کمښت سره مقاومت کوي .

۲ ـ د تند و بادونو په وړاندې مقاومت کوي او ژر نه چپه کيږي.
۳ ـ د وطني تخمونو په پرتله پنځه واره زيات حاصل ورکوي .
۴ ـ نسبت وطني تخم ته ژر پخيږي .
۵ ـ د سرخي او سياه قاق د ناروغيو په وړاندې مقاومت کوي .

نوې کلمې:

معناوې	کلمې
دوه ډوله زراعتي ناروغي دي .	سرخي او سياه قاق

د دغو جملو د تشو ځایونو لپاره یې

اصلاح شوی تخم .... ورکوی .

اصلاح شوی تخم .... دی .

هغه دولی تخم وکری چې د .... سره جوړوي .

اصلاح شوی تخم د .... په وړاندی مقاومت لري .

د اصلاح شوی تخم کښت نه خرابوی ....

له دغو کلمو څخه وټاکی

څو د وله

وچکالی

زیات حاصل

تند بادونه

خاوری له دول

د معنا و د پیژندلو

تمرین

په دغو نیمګړو جملو سره

مثال: په دفاع نه ارزي   کمونستي باطله عقیده

لپاره باید اصلاح شوی تخم وکري   د هیواد د کرهنې د ښه کیدلو

ځمکې څخه ۱۵۰ منه حاصل ورکوي.   اصلاح شوی تخم له یو جریب

له شرایطو سره سم وټاکي.   تخم د خاورې او آب او هوا

د لته بشپړه جمله جوړه کړي

کمونستي باطله عقیده په دفاع نه ارزي

تمرین

د سم بیانولو د پوهیدنې

د درس د مقصد له مخې د هر سوال لپاره يو ځواب وټاکئ

سوالونه	ځوابونه
۱- اصلاح شوی تخم له يو جريب ځمکې څخه څومره حاصل ورکوی ؟	۱- ۱۵۰ منه / ۵۰۰ منه / ۲۰ منه
۲- د اصلاح شوي تخم د ټاکنې لپاره له چا څخه مشوره واخلو ؟	۲- د مالیې مامور / د کرهنې مامور / هیڅوک
۳- اصلاح شوی تخم څرنګه حاصل ورکوی ؟	۳- پریمانه / لږ / په اندازه
۴- آیا د اصلاح شوي تخم کښت د سیاه قاق ناروغۍ خرابولای شي ؟	۴- نه / هو / نه پوهیږم

د درس
د مقصد د پوهيدنې
تمرين

(۱) چوکاټ د کلمو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وټاکئ او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکئ

۱
د دغو کلمو مترادف
پریمانه
اصلاح شوی
وچکالي
موافق

۲
له دې ځایه وټاکئ
زیات، ډېر
ښه شوی، سوچه شوی
داوبو پریماني
برابر، جوړ

۳
او هغه په دې ځای کې ولیکئ

د کلمو او معناوو د پېژندنې تمرین

د (۱) چوکاټ د کلمو ضد لە (۲) چوکاټ څخە وټاکئ او هغە پە (۳) چوکاټ کې ولیکئ

۲	۱
لە دې ځایە وټاکئ	د دغو کلمو ضد
پریمانە حاصل	لږ حاصل
خراب او نا اصلاح شوی تخم	اصلاح شوی تخم
کارکول ، زیار ایستل	تنبلي

۳

او هغە پە دې ځای کې ولیکئ

د کلمو او معنا وو پېژندنې

تمرین

د (۱) چوکاټ د جملو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکی

۱

د دغو جملو مترادف
اصلاح شوی تخم پریمانه حاصل ورکوی
اصلاح شوی تخم د چکالی په وړاندی مقاومت کوی
اصلاح شوی تخم د ناروغی په وړاندی مقاومت کوی.

۲

له دی ځایه وټاکی
د اصلاح شوی تخم حاصل ډیر زیات دی.
اصلاح شوی تخم په وچکالی کې له منځه نه ځی.
اصلاح شوی تخم ژر نه ناروغه کیږی.

۳

او هغه په دی ځای کې ولیکی

دمقصد بیانولو له طریقی سره آشناکیدلو

تمرین

د (۱) چوکاټ د جملو ضد له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکی

۲	۱
له دی ځایه وټاکی	د دغو جملو ضد
د اصلاح شوی تخم کښت مرضونو خرابولای نشی .	دوطنی تخم کښت ژر ناروغه کیږی .
اصلاح شوی تخم په وچکالی کې له منځه نه ځی .	وطنی تخم په وچکالی کې سوځی .
اصلاح شوی تخم له یوجریب ځمکی	وطنی تخم له یوجریب ځمکی څخه دیرش
څخه ۱۵۰ منه حاصل ورکوی .	منه حاصل ورکوی .

۳

او هغه په دی ځای کې ولیکی

د مقصد بیانولو
له طریقی سره د آشنا کیدلو
تمرین

دوه وشتم
لوست
پریمانه حاصل

سم کښت او کار:

یو بزګر د خپل
کښت د حاصلاتو د زیاتوالی
په خاطر باید دغه کارونه وکړي:

۱ ـ ځمکې ته دې اوبه ورکړي.

۲ ـ کله چې ځمکه وتره شوه ترڅو چې کولای شي هغه دې
ژوره یوې کړي.

۳ - که چیری ځمکه دوه دری ځلی یوې شی بنه به وی
ترڅو خاوره یې بنه نرمه شی .

۴ - که چیری ځمکه په اوږدوالی او سوریوې بنه دی، شی
ځکه خاوره یې لاندی باندی کیږی او لمرخوری .

۵ - که چیری حیوانی پارو له خاوری سره گډ شی حاصل یې
زیاتیږی .

۶ - دیوې کولو په وخت کې باید کیمیاوی سره یا حیوانی
سره دځمکی له خاورې سره گډه شی .

۷ - په هر جریب ځمکه کې باید یوه بوجی سپینه سره
د ای امونیم فاسفیت ، اونیمه بوجی توره سره ، یوریا ، وشیندل شی .

۸ - په سرو سیمو کې د غنمو اصلاح شوی تخم باید

دمیزان له لومړی نه د عقرب تر پنځه لسم پورې وکرل شي .

۹ - په هر جریب ځمکه کې باید پنځه ویشت کیلو ګرامه د اصلاح شویو غنمو تخم وکرل شي .

۱۰ - د اصلاح شویو غنمو کښت ته باید داسې وخت او به ورکړشي چې غنمو لس سانتي متره یعنې څلور ګوتې وده کړې وي او ریګي ځمکې مخکې له دې نه چې غنم سر پورته کړي باید او به ورکړل شي .

۱۱ - که چیرې کوم زیان رسوونکي حشره په کښت یا کروندې کې ولیدل شي ، باید کرونده دوا پاشي شي .

۱۲ - که چیرې په کرونده کې کوم بل مرض ولیدل شي باید دوا پاشي شي .

۱۳ - نوبتي کښت خاوره قوي کوي . هغه خاوره یا ځمکه چې قوي وي ناروغي ډیره لږ پکې پیدا کیږي او حاصل هم زیات وي . نوبتي کښت دادی چې په یوه توته ځمکه کې دول دول شیان په وار سره وکرل شي . د مثال په دول که چیری یو وار غنم وکرل شي ، بل ځل دی باید جوار وکرل شي او دریم ځل دی په هماغه ځمکه کې شوتله وکرل شي . که چیری شوتله یوې شی له خاوری سره ګډه شي ، نو د ځمکې خاوره ډیره قوي کیږي او چیری بل ځل په هماغه ځمکه کې غنم وکرل شي نو پر یمانه حاصل ورکوي .

۱۴ - کښت باید للون . خیشاوه ، شي ددې لپاره چې بیکاره وابنه او ګیا وې ځیني وایستل شي . بیکاره ګیا وې د کښت

او به او نور ضروری مواد خوری او حاصل کموی . که چیری
د خپل کښت خیشاوه ونکړو نوزمونږ حاصل به دیرلږوی
ښه به داوی چې د تخم د تیا کښي په وخت کې په ځیر سره وګورو
چې د بیکاره ګیاو وتخم ور سره ګډ نه وی .

معناوی	کلمې
د کابل له دری نیم منو څخه یولږ څه زیات	پنځه ویشت کیلوګرامه
زیان رسوونکی کوچنی موجودات	حشره

د دغو جملو د تشو ځايونو لپاره يې

څومره چې کولای شې ځمکه .... يوې کړې .

که چيرې ځمکه .... يوې شي ښه به وي .

ځمکه بايد په .... يوې شي .

د ځمکې خاوره بايد ښه .... شي .

.... بايد له خاورې سره ګډه شي .

په هر جريب ځمکه کې .... اونيمه بوجۍ يوريا وشيندل شي

له دغو کلمو څخه وټاکی

- سور او اوږدوالی
- لاندې باندې
- دوه درې ځلې
- يوه بوجۍ د امونيم فاسفيت
- حيوانی سره
- سوړه

د معناوو د پېژندلو
تمرين

په دغو نیمګړو جملو سره

مثال: په دفاع نه ارزي   کمونستي باطله عقیده

سفیت جي جي
دای امونیم فاو نیمه بو   په هر جریب ځمکه کې باید یوه بو

یوریا سره وشیندل شي .

ح ي یب
کیلوګرامه اصلاشو تخم وکرل شي .   په هر جریب ځمکه کې باید ۲۵

ژوره یوې شي .   ځمکه باید دوه درې ځله

دلته بشپړه جمله جوړه کړئ

کمونستي باطله عقیده په دفاع نه ارزي

د سم ایبانولو د پوهیدنې
تمرین

د درس د مقصد له مخې د هر سوال لپاره یو ځواب وټاکی

سوالونه	ځوابونه
۱ـ ځمکه څو ځلې یوې شي چه خاوره ئې قوي شي ؟	۱ـ دوه دری ځلی / یو ځلی / نیم ځلی
۲ـ ځمکه باید څه ډول یوې شي ؟	۲ـ ژوره / سرسری / هیڅ
۳ـ آیا ضرور دی چې ځمکه په سوراوږدوالی یوې شي ؟	۳ـ هو / نه / ضرور نه دی
۴ـ نوبتی کښت په ځمکه څه تاثیر لری ؟	۴ـ ځمکه قوی کوی / بی گټی دی / ځمکه کمزوری کوی

د درس
د مقصد د پوهیدلی
تمرین

(۱) چوکاټ د کلمو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکی

۱

د دغو کلمو مترادف
ناروغی
نوبتی کښت
دای امونیم فاسفیت
یوریا

۲

له دی ځایه وټاکی
بیماری ، مرض
په یوټوټه ځمکه کې شوده و تخم په نوښ کړل.
سپینه سره
توره سره

۳

او هغه په دی ځای کې ولیکی

د کلمو
او معنا و د پېژندنې
تمرین

د (۱) چوکاټ د کلمو ضد له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکی

۱
د دغو کلمو ضد
سرسري یوې
ښه او غښتلې خاوره
وتره ځمکه
تل یو ډول تخم کرل

۲
له دې ځایه وټاکی
ژوره یوی .
کمزورې او بې حاصله خاوره
کلکه او خرابه ځمکه
نوبتي کښت

۳
او هغه په دې ځای کې ولیکی

د کلمو
او معناوو د پېژندنې
تمرین

د (۱) چوکاټ د جملو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وتباکی او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکي

۲	۱
له دې ځایه وباسئ	د دغو جملو مترادف
د ناروغۍ د پیدا کیدو په صورت کې	که چیرې په کروندو کې مرض پیدا
باید کښت دوا پاشی شي .	شي باید علاج يې وشي .
که چیرې په کښت کی حشره پیدا شي	که چیرې په کروندو کی مضره حشره
باید دوا پاشی شي .	پیدا شي باید علاج يې وشي .
د بیکاره ګیاو تخم باید په کرینو تخم کی نه وي	باید پاک او خالص تخم وتباکل شي .
کښت باید خیشاوه شي .	بیکاره ګیاوي باید له کښت نه لرې شي.

۳

اوهغه په دې ځای کې ولیکئ

د مقصد بیانولو
له طریقې سره آشنا کیدلو

تمرین

د (۱) چوټکا د جملو ضد له (۲) ځوټکا څخه وټاکی او هغه په (۳) چوټکا کی ولیکی

۱

د دغو جملو ضد
کرینزی ځمکی باید دواپاشی شی .
کرونده باید په سور اوبو دوا یوی شی.
هر ډول تخم باید وکرل شی .

۲

له دی ځایه وټاکی
په کرینزه ځمکه کې باید دواپاشی ونه شی
کرونده باید له یوې خوا یوې شی.
تل باید یو ډول تخم وکرل شی

۳

او هغه په دی ځای کې ولیکی

د مقصد بیانولو
له طریقې سره آشنا کیدلو
تمرین

درویشتم لوست

ښه او ګټوره مالداري

یو بزګر هغومره

چې له خپل کښت او کرهنې

څومره ګټه اخلي، په هماغه اندازه او

کله هم له هغو نه زیات له خپلې مالدارۍ نه هم ګټه اخلي.

ښودې، مستې، پوڅه، کوچ، کُرت، زیړ غوړي، پیروی

(رش یا قیماق)، وړی، غوښه، د غوائی پوستکی او داسې نور.

داتول هغه حاصلات دي چې له مالدارۍ نه لاس ته راځي . له
دغو شیانو پر ته یو بزگر د څارویو او چرګانو له ساتلو نه هم
پر یمانه پیسې لاس ته راوړی شي چې د هغه وژوند له ښه کیدو
سره مرسته کوي .

یو بزگر د ښې او ګټورې مالدارۍ لپاره باید د غه کارونه
وکړي :

۱ - د څارویو اصلاح شوي نسل باید وپالي او وی ساتي چې
د دغه ډول نسلونو حاصلات ډیر زیات وي لکه : ښودې ، غوښه
او وړۍ . له بلې خوا د غه اصلاح شوي نسلونه د اکثرو ناروغیو
په وړاندې مقاومت کوي او هغه بچیان چې د دغو نسلونو څخه
لاس ته راځي په ډیر لوړ قیمت خرڅیږي .

۲ـ د څاروی داو سید وځای یعنی غوجل باید پاک وی ترڅو څاروی له گرمی، سړو او ناپاکی نه د نگراو ناروغ نه شی.

۳ـ د څاروی خواړه نه دیر لږ او نه دیر زیات وی ترڅو څاروی د نگراو ناروغ نشی.

۴ـ د څاروی خواړه باید په یوه معینه اندازه او په معین وخت ورکړ شی.

۵ـ څاروی باید د ناروغی په ضد واکسین شی ترڅو له منځه لاړ نشی.

نوی کلمی:

کلمی:	واکسین	
معناوی:	د مرض ضد دوا	

د دغو جملو تشو ځايونو لپاره ؤي
بزګر له مالداري نه هم ...... اخلي .
څاروي بايد له .... وټاکل شي .
ښه نسل .... ورکوي .
د ښه نسل بچي .... خرڅيږي .
ښه نسل د اکثرو ناروغيو په وړاندې ......کوي .
څاروي بايد د ناروغي پر ضد .... شي .

له دغو کلمو څخه وټاکئ
واکسين
مقاومت
په لوړ قيمت
پريمانه حاصل
ښه نسل نه
ګټه

د معناوو د پيژندني
تمرين

په دغو نیمګړو جملو سره

مثال: په دفاع نه ارزي کمونستي باطله عقیده

وي او نه کم . دخاروي خواړه باید نه زیات
وختونو کې ورکړل شي . دخاروي خواړه باید په مناسب
پاک وي . دخاروي داوسید و ځای باید

د لته بشپړه جمله جوړه کړی
کمونستي باطله عقیده په دفاع نه ارزي

تمرین

دسم بیانو لو د پوهیدنې

د درس د مقصد له مخې د هر سوال لپاره یو ځواب و ټاکئ

سوالونه

۱- څه ډول څاروي وساتل شي ؟

۲- د څارويو د اوسيدو ځای بايد څه ډول وي ؟

۳- څه وکړو چې څاروي ډنګر او ناروغ نشي ؟

۴- څاروي ته بايد څومره خواړه ورکړ شي ؟

ځوابونه

۱-
- ښه نسل
- هر ډول
- هيڅ رقم

۲-
- پاک او صحي
- ګډ وډ
- چټل

۳-
- واکسين
- شپه او ورځ واښه ورکړو
- مناسب خواړه

۴-
- په اندازه
- زيات
- لږ

د درس
د مقصد د پوهيدنې
تمرين

(۱) چوکاټ د کلمو مترادف (۲) چوکاټ ځمه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکی

۱

دد غو کلمو مترادف
بنسټ نسل
مقاومت
غوجل
څاروی

۲

له دې ځایه وټاکی
اصلاح شوی نسل
طاقت
د څاروی د اوسید وځای
حیوانات

۳

او هغه په دې ځای کې ولیکی

د کلمو
او معنا و د پېژندنې
تمرین

د (۱) چوکاټ د کلمو ضد له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکی

۱

د دغو کلمو ضد
ناپاک غوجل
نامناسب خواړه
اصلاح شوی نسل
ناروغ

۲

له دی ځایه وټاکی
پاک او صحی غوجل
مناسب خواړه
نااصلاح شوی نسل
روغ او جوړ

۳

او هغه په دی ځای کې ولیکی

د کلمو
او معنا وو د پیژندنې
تمرین

د (۱) څوکاټ د جملو مترادف له (۲) څوکاټ څخه وټاکئ او هغه په (۳) څوکاټ کې ولیکئ

۱

د دغو جملو مترادف
ښه نسل ډېر ګټه لري .
ښه او پاک غوجل د څارويو لپاره ګټور دی
که چېرې څارويو واکسین شي نو ناروغيږي

۲

له دې ځایه وټاکئ
اصلاح شوي نسل زیات حاصل ورکوي
صحي غوجل نه پرېږدي چې څاروي ناروغه شي
واکسین نه پرېږدي چې څاروي ناروغه شي .

۳

او هغه په دې ځای کې ولیکئ

د مقصد بیانولو
له طریقې سره د آشنا کېدلو
تمرین

د (۱) چوکاټ د جملو ضد له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکی

۱

د دغو جملو ضد
خراب نسل زحمت زیات لری او گټه لږ.
اصلاح شوی نسل لږ ناروغیږی.
ناپاک غوجل څاروی ناروغ کوی.

۲

له دی ځایه وټاکی
اصلاشونسل لږ زغوارا وزیا حاصل ورکو (ح ی حمت ی ت ی)
نااصلاشونسل د ناروپه وراند مقاونلری. (ح ی غی ی مت)
نیه او پاک غوجل څارو نه ناروغه کوی (ی)

۳

او هغه په دی ځای کې ولیکی

د مقصد بیانولو
له طریقې سره آشنا کیدلو
تمرین

څلورویشتم لوست

ځنګلداري

يوله هغو شيانو څخه

چې خلکو ته ډېره زياته ګټه

رسوي هغه ځنګلداري ده .

ځنګل په دوه ډوله پيدا کيږي:

۱ـ خود رويه ځنګل .

۲ ـ هغه ځنګل چې د خلکو په واسطه اينبودل کيږي .

زمونږ د هيواد خود رويه ځنګلونه اکثره په پکتيا، ننګرهار، کنړ و نو

سمنگان ، بدخشان ، بادغیس ، هرات اوغور په ولایتونوکی دی.

دغه ځنگلونه هم میوه لرونکی دی اوهم بې میوې . د هیواد

میوه لرونکی ځنگلونه عبارت دی له پستې ، بادام ، جلغوزی او

زیتونو څخه . اوده هیواد بې میوې ځنگلونه عبارت دی له ارچې ، بلوط

اکاسی ، نشتر ، سرو اوناجو څخه .

زمونږ هر هیوادوال باید د ځنگلونود ساتنې لپاره د غه ټکې په

پام کې ولري :

۱ - باید د هیواد د خود رویه ځنگلونو ونې بې ځایه غوځې نشي .

که چیرې یوه ونه وچه شي ، نو بایده د هغې په ځای بله ونه

کینبودل شي .

۲ - باید د ځنگلونو په منځ کې سکاره جوړ نشي ترڅو ځنگل

اوروانخلی .

۳ ـ ځینې څاروی لکه اوښ او وزی باید په ځنګل کې ونه پیول شي .

۴ ـ د ځنګله شنې ونې باید هیڅوخت غوڅې نشي .

د ځنګلداری ګټې :

۱ ـ ځنګل د خلکو وغتیا ته ګټه لري .

۲ ـ د سیمې آب او هوا ښه او په زړه پورې ساتي .

۳ ـ په هغو سیمو کې چې ځنګلونه ډیر وی ګرد او غبار لږ وی .

۴ ـ ځنګل نه پریږدی چې باد د دښتو ریګ کرنېزو ځمکو ته راوړي .

۵ ـ د ځنګله له میوو او لرګي نه هم استفاده کیږي .

نوي کلمې :

کلمې :	سکاره	
معناوي :	ذغال	

د دغو جملو د تشو ځايونو لپاره ګ

ځنګل د .... ته ګټه لري .

ځنګل د خلکو يوه .... ده .

څومره چې ځنګل زيات وي نو ....

په ځنګله کې بايد .... جوړ شي .

زمونږ په هيواد کې ....ځنګلونه شته

له دغو کلمو څخه وټاکئ

دوه د وله

سکاره

خلکو روغتيا

پانګه

آب او هوا هم بڼه وي

د معناوو د پېژندلو تمرين

په دغو نیمګړو جملو سره

مثال:

په دفاع نه ارزي	کمونستي باطله عقیده
په زړه پورې ګرځوي .	ځنګل آب او هوا
پیسې په لاس راوړي .	د ځنګلونه خلک ډیرې
دوله ځنګلونه پیدا کیږي .	زمونږ په هیواد کې دوه

دلته بشپړه جمله جوړه کړی

کمونستي باطله عقیده په دفاع نه ارزي

د سم بیانولو د پوهیدنې
تمرین

د درس د مقصد له مخې د هر سوال لپاره یو ځواب وټاکئ

سوالونه

1- د بادغیس په ځنګلونو کې کوم ډول میوه پیدا کیږي ؟

2- آیا د پکتیا ځنګلونه میوه لري ؟

3- که چیرې د ځنګله یوه ونه غوڅه شي د هغه په ځای باید څه وشي ؟

4- څو ډوله ځنګلونه پیدا کیږي ؟

ځوابونه

1- پسته
زرد آلو
انګور

2- نه
هو
یوڅه میوه لري

3- بله ونه کینول شي
ځای ئې خالي پاتې شي
ځای ئې ډک شي

4- دوه ډوله
یو ډول
پنځلس ډوله

د درس د مقصد د پوهیدنې تمرین

(۱) چوکاټ د کلمو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وټاکئ او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکئ

۱

د دغو کلمو مترادف
میوه لرونکی
بې میوې
قطع
حاصل خیزه خاوره

۲

له دې ځایه وټاکئ
میوه داره ، باثمره
بې ثمره ، خودرویه
غوڅول
قوي خاوره

۳

او هغه په دې ځای کې ولیکئ

د کلمو او معناوو د پېژندنې تمرین

د (۱) چوکاټ د کلمو ضد له (۲) چوکاټ څخه وټاکئ او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکئ

۱

د دغو کلمو ضد
بې میوې ځنګل
وچه هوا
ډیره ګرمي
خرابه هوا

۲

له دې ځایه وټاکئ
میوه لرونکی ځنګل
مرطوبه هوا
ډیر ساړه
په زړه پورې هوا

۳

او هغه په دې ځای کې ولیکئ

د کلمو
او معناوو پېژندنې
تمرین

د (۱) چوکاټ د جملو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکی

۱
د دغو جملو مترادف
ځنګل چې نه وي هوا وچه وي .
ځنګل کښت ساتي .
ځنګل د خلکو لپاره اقتصادي ګټه هم لري .

۲
له دې ځایه وټاکی
که چیرې ځنګل نه وي نو هوا خرابه وي .
ځنګل نه پرېږدي چې کښت ته زیان ورسي .
ځنګل یوه پانګه ده .

۳
او هغه په دې ځای کې ولیکي

د مقصد بیانولو
له طریقې سره د آشنا کیدلو
تمرین

د (۱) چوکاټ د جملو ضد له (۲) چوکاټ څخه وټاکئ او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکئ

۱

د دغو جملو ضد
ځینې ځنګلونه میوه لرونکي وي .
د وچ نیالګي په ځای باید نوي نیالګي کینول شي
د ځینو څارویو له پرېښودو ونې مخنیوی وشي .

۲

له دې ځایه ولیکئ
ځینې ځنګلونه بې میوې وي .
د وچ نیالګي ځای باید خالي پرېښودل شي
تول څاروي باید په ځنګله کې وڅرول شي .

۳

او هغه په دې ځای کې ولیکئ

د مقصد بیانولو
له طریقې سره آشنا کیدلو
تمرین

پنځه ویشتم لوست

دانسان بدن دغو خوارو ته اړتیالري

داکتر صاحبان وائی:

دانسان بدن هر دول

خوارو ته ضرورت لري لکه:

لبنیات، شودې، مستې،

پوخه، کوچ، کرت او داسې نور، حبوبات لکه: لوبیا، نخود

دال، ماش او داسې نور. ځینې نور گټور خواره لکه: دچرگې هګۍ

وریجې ، ژیړ غوړي ، نباتي غوړي ، لم ، سبوس لرونکي دوډۍ

کبان ، بوره ، شهد او حلوا لوغوښو د ولونه لکه : د چرګ غوښه

د پسه غوښه ، د غواګۍ غوښه او همدارنګه د ول ول دوميوې

او سبزیجات .

شودې ، مستې ، پوڅه ، کوچ ، کرت ، هګۍ ، کبان ، لوبیا

نخود ، دال ، ماش او داسې نور د انسان د بدن ترمیم او

ساختمان ته ګټور دي .

سبوس لرونکي دوډۍ ، وریجې ، کچالو ، بوره ، شهد او

هګۍ د کار د قوت د زیاتید ولپاره ګټه لري .

زیړ غوړي ، نباتي غوړي ، لم ، غوړه غوښه او کوچ د

کار قوت زمونږ په بدن کې ذیرمه کوي .

لنده داچي که چیري مونږ هر دول میوې، سبزیجات

اوګټور خواړه وخورو، زموږ بدن دزیان رسوونکي

کوچنیو موجوداتو له شره چي میکروب ورته وائی، ساتل کیږي.

نوي کلمې

کلمې	معناوي
اړتیا	ضرورت
پوڅه	پنیر
کب	ماهي
ترمیم	بیاجوړونه
ساختمان	جوړښت

دد غو جملو د تشو ځا یونو لپاره ېې

دانسان بدن هر دول خوړو ته .... لري.
باید له هر دول .... نه کار واخیستل شي.
ځینې خواړه زمونږ په بدن کې د ..... ذیرمه کوي.
شهد، هګۍ او سبوس داره دوډۍ د کار د
قوت د .... لپاره مرسته کوي.
سبزیجات او میوې مونږ ته .... لري.

له دغو کلمو څخه وټاکئ
زیاتید و
ګټه
اړتیا
خوړو
کار قوت

د معنا وو د پیژندلو
تمرین

په دغو نیمګړو جملو سره

مثال:

په دفاع نه ارزي	کمونستي باطله عقیده
ته اړتیا لري .	دانسان بدن هر ډول خوړو
وخوړل شي .	باید هر ډول خواړه
دکار قوت ذیرمه کوي .	حیني مواد په بدن کي

دلته بشپړه جمله جوړه کړی

کمونستي باطله عقیده په دفاع نه ارزي

دسم بیانولو د پوهیدنی
تمرین

د درس د مقصد له مخې د هر سوال لپاره یو ځواب وټاکی

سوالونه

۱- د انسانانو بدن کوم ډول خوراک ته ضرورت لري ؟

۲- سبزیو، لوبیو، ډوډۍ، وریجو، کچالو او شهد په بدن کښې کوم شی زیاتوي ؟

۳- شودې، مستې، کوچ او د انو ر د انسانانو لپاره گټورې دي که نه ؟

۴- آیا د ډوډۍ خوراک د انسانانو بدن د جوړښت او ترمیم لپاره گټه لري ؟

ځوابونه

۱- هر ډول
یو ډول
یوازې دوه ډوله

۲- قوت
ضعیفي
د سرخوږ

۳- هو
نه
لږ گټه لري

۴- هو
نه
بالکل گټه نه لري

د درس د مقصد د پوهیدنې تمرین

د (۱) چوکاټ د کلمو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وټاکئ او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکئ

۱
د دغو کلمو مترادف
خواږه
دول دول
ګټور
شهد

۲
له دې ځایه وټاکئ
خوراک
راز راز ، هر ډول
فایده مند
عسل

۳
او هغه په دې ځای کې ولیکئ

د کلمو معنا و ده پېژنئ
تمرین

د (۱) چوکاټ د کلمو ضد له (۲) چوکاټ څخه وټاکئ او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکئ

۲
له دې ځایه وټاکئ
زیان ، ضرر
یوډول
بې حالي ، ضعیفي

۱
د دغو کلمو ضد
ګټه
هرډول
قوت

۳
او هغه په دې ځای کې ولیکئ

د کلمو او معناوو پېژندنې تمرین

د (۱) چوکاټ د جملو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وټاکئ او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکئ

۱

د دغو جملو مترادف
باید ډول ډول خواړه وخورو.
د هر ډول خواړه خوړل بدن ته قوت ورکوي.
د سبزیجاتو خوړل بدن ته ګټه لري.

۲

له دې ځایه وټاکئ
تل له ډول ډول خوړو څخه کار واخلو.
ډول ډول خواړه بدن غښتلی کوي.
د سابو خوړل ډېر ګټور دي.

۳

او هغه په دې ځای کې ولیکئ

د مقصد بیانولو
له طریقې سره د آشنا کیدلو
تمرین

د (۱) چوکاټ د جملو ضد له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکی

۱

د دغو جملو ضد
څوک چې د کار قوت لری کولای شی زیات کار وکړی
ځینی خواړه په بدن کې د کار قوت ذیرمه کوی
د سبوس لرونکی ډوډی خوړل د انسان لپاره یو ضرورت دی .

۲

له دی ځایه وټاکی
کم قوت سړی ډیر کار نکوی .
هیڅ خواړه په بدن کی د کار قوتونه ذیرمه نکوی .
سبوس لرونکی ډوډی د انسان بدن ته هیڅ ضرور نه دی .

۳

او هغه په دی ځای کې ولیکی

د مقصد بیانولو
له طریقی سره د آشنا کیدلو
تمرین

شپږوشتم لوست

په خپل سر باید دوا ونه خوړل شي



شریف یوه ورځ

خپل زوی حمید ته نظر وکړ

او وې ویل : زوی جانه !

د خدای «ج» په مهربانۍ سره اوس جوړ شوی یې . یو د تقویې

شربت درته راوړم چې لږ څه تکړه او غښتلی شې .

شریف درملتون ته ولاړ او وې ویل ، غواړم چې زما د زوی

لیاره دتقویې دوا راکړی . دوا خرڅوونکی لږ څه سوچ وکړ

بیائي خپل مخ شریف ته واړاوه او وي ویل : زوی مو څو

کلن دی ؟

شریف ځواب ورکړ : شاید څوارلس کلن یا پنځه لس کلن وی.

دوا خرڅوونکی یو شربت راواخیست شریف ته ئې ورکړ او وې

ویل : له دغه شربت څخه دورځې دری ځلې خپل زوی ته ورکړه

ان شاءالله چې جوړیږی .

شریف دوا واخیستله او کورته راغی زوی ته ئې بږغ وکړ او

وئې ویل : زویه ! دغه شربت د ورځې دری قاشقې

وخوره د یر ښه شربت دی ان شاءالله چې جوړیږې او

تندرست به شې . حمید څو ورځې هغه شربت وخوړل خو

دوي په ځای چې تندرست او غښتلی شی ، نارو غي او ضعيفی

ئی زياته شوه .

شريف له خپلو کړو څخه پښيمانه شواو وئی ويل : کاشکی دغه

شربت مي درته نه وای راوړی . خير دي وی راځه چې ډاکتر

صاحب ته ورشو .

دواړه ډاکترته ورغلل اوقصه ئی ورته وکړه . ډاکتر لومړی

لږ قهرجن شو خوله لږ سوچ څخه وروسته ئی په مهربانی سره

شريف ته وويل : شريف خانه ! ته خو يو هوښيار سړی يې

دغه کاردی بايد نه وای کړی ، مونږ ډاکتران دڅه لپاره يو ؟

شريف خانه ! طبعاً نارو غي سړی ضعيف او ناتوانه کوی .

ماته به راغلی وې چې د تقويې دوايي ورکړی وای .

شریف وویل : زه پخپله هم ډیر پښیمانه یم . ډاکتر وویل :
شریف خانه ! دغه دواګانی هماغه ډول چې ګټی لری
زیان هم لری که چیری پخپل سر وخوړل شی ، دګټی په
ځای زیان رسوی . وروسته له دغو خبرو ډاکتر قلم را
واخیست او یوه نسخه ئی حمید ته ولیکله او ورته ویې ویل :
په دغه نسخه کې مې دوه ډوله درمل لیکلی دی ، یو ددې لپاره
چې د حمید جان ناروغي بنه کړی چې د تاسو دخپل سر درمل
له امله ورته پیدا شوی ده او بله ئی د تقویې لپاره ده ، ځکه تاسې
تشویش لری چې حمید جان ضعیف شوی دی .

خو په یاد ولری چې تر دی وروسته هیڅ ناروغ ته پخپل سر دوا
درمل ورنه کړی . بلکې د بدن د غبښتلیا لپاره بنه داده چې

د ول د ول خواړه ، د ول د ول سبزیجات او میوې وخوړی

ځکه بنه او قوی خواړه له هر د ول شربت او د وا نه گټور دی .

نوی کلمې

کلمې	تشویش			
معناوی	پریشانی، غصه			

د دغو جملو د تشو ځایونو لپاره ئی

باید .... دوا ونه خوړل شی .

هر وخت باید .... وخوړل شی .

د بیځایه دوا خوړل .... لری .

تشو کولای شی د .... له خوړلو نه ډډه وکړی

داکتر ناروغی .... بیا دوا ورکوی.

له دغو کلمو څخه وټاکی

- تشخیصوی
- پخپل سر
- دوا خوړل
- زیان او ضرر
- هوسی دوا

د معنی د پیژندلو تمرین

په د غونډېمګر و جملو ســره

مثال:

په دفاع نه ارزي	کمونستي باطله عقیده
ونه خوړل شي .	باید پخپل سردوا
زیان لري .	پخپل سر دوا خوړل
دوا خوړلو نه دې ده وکړي .	ترڅو کولاشي د هوسی

دلته بشپړه جمله جوړه کړی
کمونستي باطله عقیده په دفاع نه ارزي

د سم بیانولو د پوهیدنی
تمرین

د درس د مقصد له مخې د هر سوال لپاره یو ځواب و ټاکئ

ځوابونه	سوالونه
۱- ناروغه کېږو / غښتلي کېږو / د نګر کېږو	۱- ولې باید پخپل سر دوا درمل ونه خورو ؟
۲- پخپل سر کې دوا وخوړه / د ودی نه خوړله / دیڅ د ودئ وخوړله	۲- حمید ولې بیا ناجوړه شو ؟
۳- هو / نه / پروائی ونکړه	۳- کله چې شریف حمید ته پخپل سر دوا ورکړه پښیمانه شو که نه ؟
۴- بالکل پخپل سر دوا مه خورئ / هر وخت پخپله خوښه دوا وخورئ / دواره کار وکړئ	۴- ډاکټر په آخر کې شریف ته څه وویل ؟

د درس
د مقصد د پوهیدنې
تمرین

د (۱) چوکاټ د کلمو مترادف د له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکی

۱

د دغو کلمو مترادف
تشویش
ډاکتر
مریض

۲

له دی ځایه وټاکی
غصه او غم ، اندیښنه
طبیب ، معالج
ناروغ ، بیمار

۳

او هغه په دی ځای کی ولیکی

د کلمو او معناوو د پیژندنی تمرین

د (۱) چوکاټ د کلمو ضد له (۲) چوکاټ څخه وټاکئ او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکئ

۱
د دغو کلمو ضد
ضروري او ګټوره دوا
د ول د ول خواره
مریض

۲
له دې ځایه وټاکئ
غیر ضروري او مضره دوا درمل
یو د ول خواره
روغ او تکړه

۳
او هغه په دې ځایه وټاکئ

د کلمو او معناوو د پیژندنې

تمرین

د (۱) چوکاټ د جملو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکی.

۱

د دغو جملو مترادف
په خپل سر باید دوا ونه خورو.
د ناروغ کیدو په صورت کې باید د اکتر ته ورشو
ځینې غیر ضروري دواگانې ډیر ضرر لري

۲

له دې ځایه وټاکی
د خپل سر دواگانو له خوړو باید ډډه وکړو
کله چې ناروغ شو باید ډاکتر ته ورشو
ځینې ځینې دواگانې ډیرې خطرناکې دي

۳

او هغه په دې ځای کې ولیکی

د مقصد بیانولو
له طریقې سره د آشنا کیدلو
تمرین

د (۱) چوکاټ د جملو ضد له (۲) چوکاټ څخه وباسئ او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکئ

۲ له دې ځایه وټاکئ	۱ د دغو جملو ضد
باید هر وخت او پخپل سر دوا وخورو.	باید پخپل سر دوا ونه خورو.
ډاکټر ناپوهیدلی دوا ورکوي.	ډاکټر په ناروغ ځان پوهوي بیا دوا ورکوي
حمید کله چې پخپل سر دوا خوړله، ښه شو	حمید د خپل سر دوا خوړلو له امله بیا ناجوړ شو

۳ او هغه په دې ځای کې ولیکئ

د مقصد بیانولو
له طریقې سره آشنا کیدل
تمرین

اووه ویشتم لوست

مایکروسکوپ یا ذره بین



خدای (ج) انسان ته
عقل او فکر ورکړی چې
د هغې په وسیله هغه سامان
او اسباب جوړ کړي چې د
انسان په ژوند کې ګټوري او د دغو اسبابو په مرسته
ډیر مشکل کارونه په آسانۍ سره ترسره کړي. لکه: موټر
الوتکه او کښتۍ چې د هغو په مرسته ډیرو لرو ځایونو ته

دیر ژر رسیږی او دیر د رانده بارونه له یوه ځای نه

بل ځای ته وړی .

همدا د ول انسانانو نور سامان او اسباب جوړ کړی

چې د یر لری شیان نږدې ښکاروی لکه : دوربین

او یا د یر لری آوازونه د سړی غوږ ته رسوی لکه : تیلفون .

پدی نړۍ کې د یر واړه او کوچنی موجودات شته

خو مونږ هغه نشو لید لای . پدی خاطر چې د یر واړه او

کوچنی دی .

انسانانو له خپل عقل او فکر څخه کار اخیستی د دغو

کوچنیو او وړو شیانو د لید لو لپاره ځینی یو سامان

جوړ کړی چې هغه ته مایکروسکوب وائی .

مایکروسکوپ یو یونانی لفظ دی یعنی هغه سامان
چې مونږ د هغې په مرسته د یر کوچنی شیان چې په
سترګو نه لیدل کیږی لیدلای شو .

نوی کلمې

کلمې	معناوی
مشکل	سخت
لفظ	کلمه
یونان	یو اروپائی هیواد دی

دد غو جملو د تشو ځايونو لپاره ئی
خدای ج. انسانانو ته .... ورکړي دی.
چې د هغه په مرسته .... جوړ وی.
د دغو سامان آلاتو په مرسته .... سر ته رسوی.
مايکروسکوپ .... دی.
انسانان له خپل عقل او فکر
څخه ....

له دغو کلمو څخه وټاکی
کار اخلی
يونانی لفظ
عقل او فکر
سامان آلات
مشکل کارونه

د معنی د پيژندلو تمرين

په دغو نیمګړو جملو سره

مثال: په دفاع نه ارزي   کمونستي باطله عقیده

عقل او فکر ورکړی دی .   خدای ج . انسانانو ته

لفظ دی .   مایکروسکوپ یو یوناني

په ډیرو مهمو کارونو ترسره شوي .   انسانان د جوړ شویو اسبابو

د لته بشپړه جمله جوړه کړی
کمونستي باطله عقیده په دفاع نه ارزي

د سم بیانولو د پوهیدنې
تمرین

د درس د مقصد له مخې د هر سوال لپاره یو ځواب وټاکئ

سوالونه

۱- خدای ج. انسانانو ته څه شی ورکړی دی ؟

۲- انسانان د خپل عقل په مرسته څه شی جوړوی ؟

۳- آیا کولای شو د دوربین په مرسته لرې شیان و وینو ؟

۴- تیلفون کولای شی له لرې ځای نه غږ زموږ غوږونو ته ورسوی ؟

ځوابونه

۱- عقل او فکر
پیسې او دارائی
هیڅ یو

۲- سامان او اسباب
څاروی
د بره

۳- هو
نه
ممکن نه دی

۴- هو کولای شی
نشی کولای
معلوم نه دی

د درس
د مقصد د پوهیدنې
تمرین

د (۱) چوکاټ د کلمو مترادف له (۲) چوکاټ څخه وټاکئ او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکئ

۱
د دغو کلمو مترادف
عقل
سامان
فایده مند

۲
له دې ځایه وټاکئ
هوش ، فکر
اسباب
ګټور ، مفید

۳
او هغه په دې ځای کې ولیکئ

د کلمو او معناوو د پېژندنې تمرین

د (۱) چوکاټ د کلمو ضد له (۲) چوکاټ څخه وټاکی او هغه په (۳) چوکاټ کې ولیکی

۲	۱
له دی ځایه وټاکی	د دغو کلمو ضد
لری	نږدی
دروند	سپک
آسان	مشکل

۳

او هغه په دی ځای کی ولیکی

د کلمو
او معناو د پیژندلی
تمرین

د (۱) چوکا د جملو مترا د له (۲) چوکا څخه وتا کی او هغه په (۳) چوکا کې ولیکی

۱

د دغو جملو مترادف
خدای ج، انسان ته عقل ورکړ د .
انسا د خپل عقل په مر سا ما او اسبا جوړو
په نور کولا شولر شیا نر دی وولیو .

۲

له دی ځایه وټاکی
خدا ج، خپل بنده ته فکر ورکړی د .
انسا ته خد عقل ور چې د هغی په مر سا ما جوړ
دو د له مو سر هر کوچې لر شیا نو دی وو .

۳

او هغه په دی ځای کې ولیکی

د مقصد بیانولو
له طریقې سره د آشنا کیدلو
تمرین

ACKU

د (۱) چوکاټ د جملو ضد له (۲) چوکاټ څخه وټاکئ او مغز په (۳) چوکاټ کې ولیکئ

۱

د دغو جملو ضد
په مایکروسکوپ کولای شو ډیر کوچني شیان ووینو
په تیلفون کولای شو غږونه له لرې ځای نه واورو.
موټر کولای شي ډیر درانده شیان له یو ځای نه بل ځای ته یوسي.

۲

له دې ځایه وټاکئ
په مایکروسکوپ نشو کولای کوچني شیان ووینو
د تیلفون په مرسته نشو کولای غږ له لرې ځای نه واورو
موټر نشي کولای ډیر درانده شیان له یو ځای نه بل ځای ته یوسي.

۳

او مغز په دې ځای کې ولیکئ

PROPERTY OF ACKU 19143

د مقصد بیانولو
له طریقې سره د آشنا کیدلو
تمرین